شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحریك نشراتي ارګان

لومړی کال | لسمه ګڼه | دوشنبه د ۱۳۷٤ش کال دکب (حوت) د میاشتې (۷) | د ۱۹۹٦ میلادی کال دفبرورۍ (۲۶) | د ۱٤۱٦ق کال دشوال (۷)

نړیوال خلافت الله(ج) نیکانو ته ورکوی

وعده کړې ده الله له هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی له تاسې او کړي یې دي ښه (عملونه) چې قسم دی خامخا به خلیفه ګان کړي(الله) دوی په ځمکه کې لکه چې خلیفه ګان کړي یې و هغه کسان چې پخوا وو له دوی.

(النور: ۵۸)

قرآن د ځینو ملتونو عروج او ځینو نورو د زوال معیار دی

حضرت عمر بن خطاب (رضی الله عنه) وایي: د الله رسول (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي:«بې شکه چې الله (جل جلاله) ددغه کتاب (قرآن مجید) په ذریعه ځینې ملتونه لوړه وي(د هر ډول ترقي لوړ مقام ته یې رسوي) چې عمل وربانديی وکړي او ځینو نور ښکته کوي(د پستۍ او ذلت کندې ته یې غورځوي چې عمل وربانديی و نه کړي)

(دغه حدیث امام مسلم روایت کړی دی)

دمولوی احسان الله «احسان» په لاس د اسلام له خادم ملامحمدعمر «مجاهد» سره په اکوړه کې زرګونو مسلمانانو بیعت وکړ

د جمعې په ورځ چې د ۱۳۷٤ هجري لمریز کال د کب دمیاشتې څلورمه نیټه وه د اکوړه خټك په کمپونوکې د طالبانو د اسلامي تحریك د عالي شورې غړي مولوی احسان الله (احسان) په ویاړ یوه ستره غونډه جوړه شوه. چې د سرحد په صوبه کې اوسېدونکو په زرګونو مجاهدینو او مهاجرینو په کې برخه واخستله. په لاره کې محترم مولوی صاحب احسان الله (احسان) دیوې سترې قافلې له خوا چې په سلګونو موټر ورسره روان وو، دغونډې میدان ته بدرګه کېده چې دغونډې برخوالویې په ډېرو تودو احساساتو هرکلی وکړ. غونډه لومړی دمولوی عبدالمالك له خوا دقرآن کریم مبارکو آیتونو په لوستلو پیل شو. (٤مخ)

په کندهارکې دښځو محبس بیا فعال شو

له کندهار نه دشریعت اونیزې خبریال خبر راکوي چې: د قندهار ښځینه محبس بیا فعال کړای شو او لومړنی میلمنه پکښې هغه ښځه وه چې د کوروټاویزونه یې کول، ددغه ناروا او بدعمل له امله د طالبانو د اسلامي تحریك محکمې دا محبس ته واستوله ترڅو د ربړ او ستونځې ترڅنګ اسلامي تعلیمات زده کړي او نیکه مسلمانه ورنه جوړه شي.

د تحریك مشران غواړي چې ښځینه محبس له دې نه وروسته د اسلامي زده کړې او اسلامي ریاضت مدرسه جوړه شي.

د تحریك د ښوونې او روزنې رئیس دمیدان وردګ دښوونې او روزنې له مسؤول سره وکتل

د شریعت اونیزې خبریال خبر راکوي چې د میدان وردګ ولایت د ښوونې او روزنې مسؤول تېره ورځ په قندهار کې د طالبانو د اسلامي تحریك د ښوونې او روزنې رئیس مولوی صاحب عبدالشکور حضور ته ورغی او په اړونده مسئلویې خبرې اترې ورسره وکړې او د خپل ولایت د ښوونې او روزنې د کار له څنګه څخه یې معلومات ورکړل.

د تحریك د ښوونې او روزنې رئیس ددوی د کارونو له سمون څخه خوښي ښکاره کړه او لازمي لارښوونې یې ورته وکړې.

په کنړ کې یو ۱۳ کلن ماشوم ځان د خپل عزت په خاطر شهید کړ

د کنړ د ولایت څخه د شریعت اونیزې خبریال خبر راکوي چه ددغه ولایت د نو آباد په کلي کې یو ۱۳ کلن هلك چه د ښکلي څېرې لرونکی وو د روژې مبارکې میاشتې په ۲۷ نیټه د هم هغه ځای د مسلطو بې فرهنګه ټوپکوالو د یو پوستې لخوا د غلا په تور ونیول شو، کله چه د ماشوم پلار خبر شو او د پوستې د ناأهله ساتندویانو په بدو ارادو وپوهېده فوراً حاضر شو او د وحشت د قانون مطابق یې داړه ماراتو ته دوه زره کلداري جریمه ورکړه ترڅو (٤مخ)

دکندهار والي او دعالي شورا سرپرست ملامحمدحسن اخوند وویل:

زمونږ پاڅون ددې لپاره دی چې په افغانستان کې اسلامي شریعت نافذ او خلك د خوشحالۍ او هوساینې ژوند وکړي

له کندهار نه د شریعت اونیزې خبریال خبر راکوي چې دتېرې شنبې په ورځ د ۱۳۷٤ لمریز هجري کال د کب په (۵) نیټه د کندهار والي او د طالبانو داسلامي تحریك د عالي شورا سرپرست ملامحمدحسن اخوند د کندهار له دریم قول اردو څخه لیدنه وکړه او هلته یې منتظرو مجاهدو طالبانو او نورته ګټورې او تفصیلي خبرې وکړې.

ده په خپلو خبروکې وویل: (٤مخ)

په جلال آباد کې د کابل اداري د افرادو د خریداري بودجه لوټ شوه

اطلاع ده چه دغه پیسې قاضي امین ته د مشرقي ولایاتو د قوماندانانو لپاره را استول شوي وه.

د شریعت اونیزې خبریال د جلال آباد د ښار څخه د یوې مؤثقې یا خبره منبع په حواله رپوټ راکوي چه د روژې مبارکې په اخیرو ورځو کې د کابل اداري څو کارتونه پیسې چه کلداري او افغاني پکې شامل وې، دغه ښارته د افرادو د دتېر پستلو لپاره راستولې وې، چه د مدیر سلام په واسطه د قاضي صاحب امین د تنظیم غړی دی او داحیاء التراث د خیریه مؤسسې د مصعب بن عمیر د دارالایتام مدیر دی، په دغه دارالایتام کې امانتي اېښودل شوې وې، د روژې په دیرشمه نیټه دری کسان چه په یو واګښن موټر کې سپاره وه دغه دارالایتام ته راغلل او ځانونه یې د مدیر سلام میلمانه معرفي کړل، څرنګه چه مدیر سلام د اختر د رخصتۍ تیرولو لپاره کورته تللی وه نو میلمانه د دارالایتام د محافظینو د روژه ماتي لپاره دارالایتام ته ننوتل. (٤مخ)

دلوګر په ولایت کې دوه کسان د روژې خوړلو په جرم په شرعي سزا محکوم شول

دشریعت اونیزې د خبریال د خبر له مخې د تېرې جمعې په ورځ د لوګر ولایت د کلنګار په جامع جومات کې دوه کسان ، سید حسن د محمد یوسف زوی او عزت الله د غلام جیلاني زوی چه د شرعي عذر نه پرته یې روژه په واګه خوړله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د ریاست د مؤظفو کسانو له خوا ونیول شول او وروسته تر هغې چه شرعي فیصله پرې صادره شوه د عام محضر په مخکې چه زیات شمیر خلکو برخه اخیستي وه په دیرشو دیرشو دورو ووهل‌شول.

دهرات غیرتي ولس دخپلو نمایندګانو په واسطه د دغه ولایت مقام ته د کوچنۍ اختر د مبارکۍ پیغامونه وراندې کړل

د هرات د ولایت څخه یومسؤول خبرګاې د شریعت اونیزې ته خبر ورکړی چه ددغه ولایت ګڼ علماؤ، سپین ږیرو، قومي مشرانو ، ساداتو، وکیلانو او نورو مخورو شخصیتونو ددغه ولایت والي محترم مولوي صاحب یارمحمد آخند ملاقات ته ورغلي او دولایت مقام او دطالبانو د اسلامي تحریك مشرتابه ته یې خپل (٤مخ)

یکتن از ملیشه های متجاوز ایرانی کشته شد

خبرنگار ما از هرات خبر میدهد که: درجریان شب اول حوت ۱۳۷٤ که مصادف با شب عید فطر بود، موتر حامل ملیشه های سرحدی ایران داخل حریم سرحدی کشور ما گردید که ازطرف محافظین سرحدي قهرمان جنبش اسلامی طالبان امر توقف به اوشان داده شد که در مقابل ملیشه های ایرانی اعتنا به آن نکرده آغاز به آتش کردند که از طرف محافظین سرحدی کشور ما بعمل متقابل مواجه گردیدند که در نتیجه یکتن از متجاوزین کشته، دو تن زخمی و یکتن از آنها بدست محافظین سرحدی کشورما اسیر گردید.

خبر می افزاید بعد از اینکه قونسل ایرانی در یك دیدار خود با والی هرات از این عمل ملیشه های سرحدي کشورش معذرت خواست، ملیشه دستگیر شده به قونسل ایران درهرات ، سپاریده شد.

دیوې لویې غونډې په وړاندې په یوتن لاري وهونکي د شریعت حکم نافذ شو

د هرات له ولایت نه د (شریعت اونیزې) خبریال خبر راکوي چې:

د ادرسکن په ولسوالي کې په یو تن لاري وهونکي (قاطع الطریق): ایدل د غلام محمد زوی باندې د ګواهانو له ګواهي او دده له اقرارنه وروسته د محکمې له حکم سره سم د(لاري وهلو) قرآني حد دیوې درنې غونډې په وړاندې تطبیق او ښي لاس په مړوند کې او کیڼه پښه ورڅخه غوڅ کړای شول.

ده د لاري وهلو په لړ کښې پنځه دیرش لکه افغاني، دوه ساعتونه او یو ټیپ له خلکو اخستي وو.

په لاري وهونکو (قطاع الطریقو) باندې شرعي حد تطبیق کړای شو

د شریعت اونیزې خبریال د پکتیا ولایت د زورمت له ولسوالي نه خبر راکوي چې: د تیرې روژې مبارکې په ۲۳ مه چې د ۱۳۷٤ لمریز کال د سلواغې له ۲۳ سره سمون خوري په دغه ولسوالي کې دیوې لویې غونډې په وړاندې د محکمې (٤مخ)

د لوګر ولایت په ټولو ولسوالیو، کلیو اوباندوکې امن تأمین او شریعت نافذ دی

زمونږ خبریال د لوګر ولایت د والي محترم مولوي صاحب محمد کبیر په حواله لیکي چه اوس الحمدلله هغه وخت رارسېدلی چه د نورو هغو ولایاتو په څېر کوم چه د طالبانو د اسلامي تحریك د اتلو مجاهدینو ترکنټرول لاندې دي او هلته د امت او شریعت خاپسته فضا جوړه ده نن دلته په لوګر کې هم واقعاً امن تأمین او شریعت نافذ دی. خلك خپل ورځنۍ چارې په سوله او امن سره سرته رسوي د لمونځونو په وخت کې دوکانونه خلاص پریږدي او د جماعت د اداء کولو او فضیلت د لاس ته راوړلو په خاطر جمعې ته حاضریږي او خپل لمونځونه کوي. خبر زیاتوي دلوګر په ولایت کې چه له کومې ورځې نه د امر بالمعروف و نهي عن المنکر ریاست فعاله شوی د نوموړي ولایت په ټولو سیمو کې اسلامي قانون پوره تطبیق شوي او د ژوند ټولې (څلورم مخ)

د مسلماني عقیده

دویم مخ

اسلام او ناسیونالیزم

۲ مخ

استاد سیاف څنګه او ولی له صحنې نه ګوښه کړای شو؟

(دویم مخ)

تحریك اسلامی طالبان افغانستان

(دویم مخ)

د طالبانو د اسلامي پاڅون ضرورت او مشروعیت

(دویم مخ)

داکوړه دکمپونو په جلسه کې دمولوی احسان الله«احسان» وینا

(دویم مخ)

په دار العلوم العربیة ضیاء الإسلام کې د طالبانو د اسلامي تحریك په ملاتړ غونډه

د تیرې هفتې په ورځ په ضیاء الإسلام مدرسه ورسك روډ کې د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحریك په ملاتړ درنه لمونځه وشوه غونډه د سحرله نهو بجو څخه د قاري نقیب احمد لخوا د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه. غونډه کې په سوونو خلکو علماء، کرامو، طالبانو برخه اخستې وه. غونډې ته نامتو عالم مولانا حمدالله جان (ډاګی) مولانا محمد اسمعیل رحماني، او د مدرسې مدیر حاجي اکرم خان تقریرونه وکړل. هر یوه مقرر په خپل وار د رباني نامتهاده اداره و غندله او هغه یې ناروا او غیر قانوني حکومت وباله حاجي اکرم خان د خپلې وینا په ترځ کې وویل چه دا اسلامي تحریك له سپیڅلو قوتونو څخه ترتیب شوی دی چه په دیني مدرسو کښې یې د دین تعالیم زده کړل او هر وخت د دین د لیارې داعیان وو او دي. هم تل ترتله د حق د سنګر سپاهیان دي ده زیاته کړه چه رباني خو موږ ته ځان پخوا پروفیسر معرفي کولو خو هغه مشهور حدیث له دنه څنګه هیر شو چه پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) وائي: چه ملائکې د رحمت خپل وزرونه طالب علم ته غوړوي او رباني ورته په لارو کوڅو کښې ماتینونه جوړه وي. د ټوپونو په ګولو یې ولي خرمونږ ته اوس صحیح معلومه شوه چه اصلاً دی د دین دښمنو عناصرو ګروګان‌دی.

حاجي اکرم خان د خپل تقریر په وروستي برخه کښې وویل چه د طالبانو اسلامي تحریك یو سوچه او سپیڅلی دیني تحریك دی او زه ټولو مخلصو مسلمانانو ته دا زیری ورکوم چه انشاء الله هغه وخت ډیر را نژدې شوی چه د افغانستان ټولې علاقې د دوی تر قبضې لاندې او په مظلوم ملت یو سپیڅلی او سوچه اسلامي حکومت قائم شوی.د تقریر په پای کښې یې د تحریك سره د هر قسمه ملاتړ اعلان وکړ او زیاته یې کړه چه مونږ د یوکال نه را په دیخوا د طالبانو په ملاتړ کې خپله مدرسه بنده کړېده.

جلسه په دولسو بجو د طالبانو د کامیابۍ په دعاء پای ته ورسیده.

دجلال آباد په ښار کې د طالبانو د اسلامي تحریك په تایید غونډه وشوه

د شریعت اونیزې خبریال د جلال آباد له ښار نه خبر راکوي چه د تېرې جمعې په ورځ د ۱۳۷٤ لمریز هجري کال د کب په ٤ نیټه د مولوي صاحب عبدالتواب په اهتمام باندې د جلال آباد په ښار کې یوه درنه غونډه جوړه شوې وه چې په هغې کې د مشرقي ولایتونو علماؤ کرامو، روحانیونو، حفاظو، د مدرسو او مکتبونو استاذانو او مخورو ګډون کړی وو. غونډه د قاري عتیق الرحمان له خوا د قرآن مجید د څو آیتونو په تلاوت سره پیل ورپسې مولوي عبدالتواب حاضرینو ته د (ښه راغلاست) په ترځ کې افتتاحیه وینااوروله. له هغه وروسته مولوي سیدان شاه او د نجم الدین اخند زاده د پوهنتون شیخ الحدیث د طالبانو د اسلامي تحریك د تایید او د شرعي احکامو د نفاذ په هکله د قرآن مجید او احادیثو په رڼا کې مفصلې ویناوې واورولې، وروسته مولوي مطیع الرحمن، قاضي صاحب عبدالمتین، مولوي صاحب عبدالحلیم، ارازی، مولوی معتصم بالله او مولوي شفیق الله هر یوه ویناوې وکړې او له یې واك واکمنو څخه یې په کلکه د شرعي قانون د نافذولو لپاره لارو د غلامانو او د فسادونو د خښولو غوښتنه وکړه، غونډه د مولوي عبدالعزیز په اختتامیه دعا مازدیګر د لمانځه په وخت پای ته ورسیده.

سرمقاله

انفجار انبار های سلاح در ارګ کابل، یا انفجار نفرتها؟

نفرت و انزجار مردم افغانستان از اداره بی کفایت کابل تا هنوز قوس صعودی می پیماید و به اوج خود رسیدنی است؛ زیرا در ولایاتیکه به ظاهر زیر تسلط اداره ناتوان کابل بحساب می اید ظلم و بیدادګری بالای مسلمانان غیور ولی بی دفاع به حدی رسیده که از تحمل بیرون است، تفنګیان خدا ناترس و بی ننګ- مانند مزدکی های تاریخ - ناموس و دارو ندار مردم ملك مشترك- بلکه ملك شخصی خود- میدانند و بالاتر از این ارواح شان را نیز فدای هوا و هوس خود میکنند: پسران و دختران نوجوان و زنان شان با بی رحمی و قساوت از خانه های شان به جبر و اکراه میکشند و بر حریم مصون، ابرو، عزت، حیثیت و کرامت اسلامی و انسانی شان بدون هیچګونه شرم و حیا تجاوز ناروا میکنند و پسران نو جوان را پس از امرار مرحله کرامت سوز به جنګ قدرت طلبی سوق میکنند!

اینست مردم داری و رعیت پروری - و دعوای دولت اسلامی - اداره بی اراده و مفلوج کابل. آن مسلمانهای غیور در زمان تسلط کمونستهای بی ایمان اګر نیرو تفنګ نمیداشتند چنین تجاوز ها را مردانه وار به چوب و تبر و کلنګ جواب میګفتند و حساب خود را از متجاوزین بی دین یك بر چند میګرفتند. اما اکنون چه کنند که رعیت رئیس جمهور مسلمان، پوهاند و سند یافته (الازهر) در رشته حدیث است!!!!؛

این رئیس جمهور محکوم که اینهمه بیداد ګری ها بچشم سر می بیند ولی چه کند! از ناچاری برای اشخاص حاکم بروی پول چاپ میکند و برای آن، حفاظت تخت ارګ- تاتخته، مرګ- ضرور اس -

آن مسلمانان مظلوم چه کنند که وزیر دفاع شان- دفاع از حریم عقیده، عزت، آب رو، ناموس، خون و مال یك قهرمان، مجاهد شانزده یا بیست سال و یك شیر از جمله پنج شیر است!!!؟!

چه کنند که نه راه ګریز است نه یارای شکیب! چه کنند که نه پشتوانه ای دارند و نه فریاد رس! بجز فریاد رس حقیقی (خداوند غیاث المستغیثین جل جلاله) که هر چه زود تر بفریاد شان خواهد رسید بشرطیکه خود ها را صادقانه به او تعالی تسلیم کنند، به ریسمان محکم شریعت او چنګ بزنند و بقهاریت او تعالی ازته دل پناه ببرند.

انبار های اسلحه و سهمات و دور اندازهای مهلك و ویران کن که اداره کابل به بهای بردګی و غلامی خود از روس های شکست خورده برای تباهی مسلمانان افغانستان انباشته بود و در اواخر رمضان مبارك به قوت قاهر وخشم خداوند تعالی و بسبب غیرت و فداکاری فرزندان غیور همان مسلمانان مستضعف به انبار خاکستر تبدیل شد غونه، بارز از قهر (ص۲)

هغه دیوال چې په مشوره ورانیږي، ویشتلو ته یې اړتیا نشته

«د اسلام د خادم ملامحمد عمرمجاهد له ویناوو څخه»

شریعت

دامتیاز خاوند : د افغانستان د طالبانو اسلامی تحریك
دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
د لیکوال هیئت تر کتنی لاندی
مسؤول مدیر : الحاج مولوی احمدجان
تیلفون ۸٤۰۳۷۶
ادرس :په پیښورکښی دطالبانوداسلامی تحریك نمایندګی
دیوی ګڼی بیه په هیواد کښی (۳۰۰) افغانی
په پاکستان کښی (۲) کلداری

سرمقاله ...

خداوند قهار- جلّ جلاله- است بالای این بیدادگران خون کار، و الگویی است از اوج نفرت و انزجار مسلمانان افغانستان به نسبت اداره نامیمون کابل که دامن آن به داخل ارگ و در صفوف گارد ریاست- غیر- جمهوری کشیده شده است؛

قبل از این نیز آتش زنی بزرگی در محوطه ارگ بعمل آمده بود، تلفات جانی این واقعات هر چند کم وانمود کرده اند ولی کسانیکه از محل واقعه دیدن کرده اند می گویند که تنها تلفات جانی انفجار در حدود یك هزار نفر است، زبانه های سرفلك اتش و دود و انفلاقهای بی سابقه و پیهم و دوامدار زیاده از نیم شبانه روز گواه تلفات بیشتر است.

تلفات جانی و مالی مردم کابل و دیگر هموطنان مظلوم ناشی از این واقعه و واقعات جانکاه دیگر که زاده دوام و بقای اداره شوم کابل است برای همه مسلمانان درد آور و غم انگیز است.

تحریك اسلامی طالبان افغانستان خود را با مسلمانان مظلوم و گلیم نشینان سوگوار شریك همه رنج و درد و اندوه دانسته دعا میکند که خداوند قهار و جبار جل جلاله هر چه زود تر اداره مملکت مسلمان افغانستان را بدست صالحین بسپارد تا دست ناپاك ظالمان از سر مظلومان ما کوتاه و امن و سلامتی نصیب ما گردد؛ و به برادران تحت تسلط ظالمین توصیه میکند که به قلب و روح خود به جناب خداوند غیاث المستغیثین جل جلاله از صدق و حضور دل پناه ببرند و اولاد های خود را که به نوك تفنگ و برچه جبراً در قطار حامیان ظلم و بربریت ایستاده کرده شده اند توصیه کنند که هر چه زودتر به همت و مردانگی بدون خوف و هراس به صفوف صفای تحریك اسلامی طالبان افغانستان که بخاطر آزادی شما و حفظ خون و ناموس و مال شما از دست ظالمان وحشی قیام کرده اند به پیوندند.

پیام های همدردی و همنوایی شما برادران مظلوم همواره به تحریك اسلامی طالبان افغانستان میرسد ما اطمینان میدهیم که انشاء الله تعالی این شب دیجور و تاریك ظلم و تعدی، تجاوز و بی داد گری هر چه زودتر پایان خواهد یافت و صبح روشن آزادی و امن خواهد دمید، در حدیث مبارك آمده است که؛ ظالم را خداوند تبارك و تعالی بسیار مهلت میدهد تا خود از ظلم توبه کند وقتیکه او رابدست قدرت عظیم و جبار خود بگیرد رهایش نمیکند تا که هلاکش نسازد قرائن و نشانه ها دلالت بر این میکند که گرفت خداوند قهار جل جلاله بالای ظالمان از مضبوط مضبوط تر شده میرود اگر توبه نکنند عنقریب بجزای اعمال بد خواهند رسید.

تحريك اسلامی طالبان افغانستان

عبدالشکور «مطمئن»

هنگامیکه جهاد مقدس مردم مسلمان افغانستان به ثمر میرسید و ارتش سرخ روس رو بفرار نهاد، آنگاه روسها زمام امور را به غلام حلقه به گوش خود(نجیب) سپرده و با او همکاری میکرد.

نجیب این اجیر دیرینه، روس در مقابل مجاهدین از هر حیله و فریب کار میگرفت تا آنکه براي تألیف قلوب بعض ایشان به پرداختن پول توسل جست و این حیله اش تا حدي کارگر بیفتاد و در صفوف مجاهدین رخنه انداخت و مجاهدین مرتزقه از جهاد دست برداشتند، مگر گروهی مخلص بودند که در عزم ایشان اندك خللی وارد نشد و به جهاد خویش غرض اعلاء کلمة الله و اقامه، حکومت عدل اسلامی ادامه دادند.

مدتی سپری شد داکتر نجیب نیز راه گریز را پیش گرفت و او را از نیمه راه برگشتانده و در دفتر ملل متحد در کابل پناه خواست.درین اثناء کمونیست ها مواقع استراتیژیك را یکسانی که قبلاً با ایشان مراوده داشتند واگذاشتند و فقط قصر ریاست جمهوری را به رهبران جهادی سپردند و کمونیست ها توانستند در صفوف مجاهدین در آیند و آتش فتنه را بر افروزند.

در همان اوایل پیروزی انقلاب اسلامی، مسلمانان را با یکدیگر بکشتار بیرحمانه تشویق نمایند و از اینجا بود که فجار و فساق زمینه را مساعد دیده و از این بی بند بو باری ها استفاده نموده به راهزنی، دزدی، پرده دری، کشتار و هر نوع فساد و تبه کاری دست زدند و انهماك در شهوات ایشان به جای رسید که پسر بچه ها را به اغوا گرفتند و مسلمانان تحمل دید و شنید این نوع فجایع را برخود دشوار دیدند ، گریستند، ناله و فغان بر آوردند مگر کجا کسي بود که گوش شنوا و توان یاری مستضعفین را درخود مشاهده کند.

تا آنکه قضای خداوندی، گروهی از طلبه، علوم دینی مجاهدین مخلص و علماء کرام را برای انجام این رسالت سترگ برگزید وبایشان الهام کرد که یگانه راه نجات جهاد است. ایشان از صمیم قلب برای این کار به امارت جناب ملا محمد عمر «مجاهد» قد علم کردند. و از علماء کرام استفتاء جستند که با این فساق و فجارو راهزنان و ظالمان چه باید کرد! در نتیجه علماء کرام فتوای صادر نمودند که ایشان را از دوش مردم بزمین بآیست نشاند و اسلحه، ایشان را جمع نمود.

طلبه، دینی به فتوی شرعی علمای کرام لبیك گفته و مردم کشور که از ظلم این خاینان بستوه آمده بودند با طالبان بهر نوع مساعدت و همکاری حاضر شدند. مال و متاع را دراختیار ایشان گذاشتند. طالبان وعلماء گرداگرد امیر خویش حلقه زدند و مردم بایشان پیوستند تا ثمرات جهاد مقدس را از دست برد مفسدین نجات بدهند و بساط ظالمان را برچینند زیرا جهادیکه با روسها و کمونیستها آغاز شده بود غرض نهایی از آن اعلاء کلمة الله و طرد ظالمان خدا ناشناس بود.

آری، آنچه خدا خواسته بود بظهور رسید، گروهی کوچك ولی با ایمان قوی و راستین و عزم راسخ و متین توانستند درمدت کوتاهی پانزده ولایت از ولایات کشور را در تصرف خویش در آورند. الله(ج) بایشان پاداش نیکو دهد زیرا برای هموطنان مسلمان خویش فرصتی مهیا ساختند تا میوه هاي نورس جهاد را بچینند و در سرزمین خویش تنفیذ حدود و احکام شریعت غرای محمدی علیه صلواة والسلام را بچشم سر مشاهده کنند.

نهضت اسلامی طالبان ابتکاری از خود نشان دادند که همگی قضات و حکام را از علماء و مصلحین تعیین داشتند و بعد از آنکه حد، قصاص و شعایر الله در ولایات تحت اثر تحریك نافذ و عملی گردید. الحمدلله هیچ نوع جنایت و جرمي مثل دزدی، زنا، قتل و مجال ارتکاب برای سایر جرایم باقی نماند وهرگاه مسلمان متدین و قوماندانان جهادي نتایج مطلوب دعوت را درمنطقه مشاهده کردند جوقه جوقه در صفوف قافله های تحریك اسلامی در آمدند.

پس بر هر مسلمان که خواهان امن، عدل، و استقرار نظام اسلامی در سرزمین خویش میباشند، لازم است تا با این گروه ازته دل براي مساعدت آن بشتابند. مساعدت های مادی و معنوی خود ها را از این تحریك دریغ نداشته تابخواست اوتعالی حکومت اسلامی در سرزمین که بخون صدها هزار شهید گلگون کفن سیراب شده مستقر گردد. وما ذالك علی الله بعزیز.

دمسلماني عقیده

غازي خیل

اته برخه

څلورمذهبونه:

څلور کتابونه، څلورملائکې مقربین مو په تیرو ګڼو کی ولوستل ، اوس ددی خبري نوبت دی چی څلور مذهبونه وپیژنی.

د څلورومذهبونو د پیژندنی لپاره دی ته اړ یو چی د اسلامی تشریع(د قرآن مجید او احادیثو حکمونو ته د قانون بڼه ورکول) اوږد مزل له تیرو پیړیو نه راوڅیړل شی، په دی څیړنه کی به دا خبره هم معلومه شی چی د ټولو مسلمانانو د شرعی حکمونو ماخذ او مرجع خو دا یو قرآن او سنت دی نو بیا ولي څلور –او له څلورو نه لا زیات– مذهبونه په اسلامی ټولنه کی منځ ته راغلی دی؟

دتشریع لومړی دوره:

د اسلام په لومړی سر (د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم په ژوند) کی قرآن مجید او سنت شرعی قانون(تشریع) وه:

۱- قرآن مجید: قرآن مجید له الله تعالی نه د جبرئیل علیه السلام په خوله رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته لیږ، لیږ رالیږل کیده چی دده د عمر په یو څلویښتم کال د رمضان د مبارکی میاشتی په اولسم د حرا په غارکښی د سورت اقرأ د سر پنځه ایتونه یی ورته راوړل او ور زده یی کړل، دا د قرآن مجید د نازلولو پیل ؤ. اخیرنی دده د عمرپه دری شپیتم او د هجرت په لسم کال د ذوالحجی په نهمه(د عرفی په ورځ) د سورة مائدی هغه آیت ورته راووړ چی دا مضمون پکی ؤ:«نن می ستاسو لپاره ستاسو دین درته بشپړ، نعمت می درته پوره او اسلام می د دین کولو لپاره درته خوښ کړ».

په دغه حساب سره د قرآن مجید د نازلیدلو ټوله موده:(دوه ویشت کاله، دوه میاشتي او دوه ویشت ورځې» شوه؛ په دغه موده کی د قرآن مجید شپږ زره او څو پاندی دوه سوه آیتونه په یو سل او څوارلسو سورتونو کښې بشپړ شول، ددغو آیتونو په مضمونونو کی لنډې کیسې د پند او عبرت لپاره ، مثالونه د ښه پوهولو لپاره، د جنتونو او نعمتونو وعدې ایمان ته د ترغیب او تشویق لپاره، د دوزخونو او عذابونو وعیدونه د ترهیب او ویرولو لپاره د شرعی احکامرد عملی کولو لپاره راغلل.

د احکامو د ایتونو شمیر نژدی دوه سوه دی او ددغو عملونو حکمونه پکښی دی:

لومړی: د الله تعالی او بنده ترمنځ معامله چی عبادت دی او له نیته پرته نه قبلیږي: د عبادتونو یو ډول یوازی په بدن اد سرې(بدنی دی) لمونځ او روژه - بل ډول یې یوازی مالی محر د اجتماع په ګټه دی لکه زکات بل راز یې بدنی او مالی اجتماعی دي لکه حج؛ دغه عبادتونه- له ایمان نه وروسته- د اسلام ارکان یا بنسټ ګڼل کیږي.

دوم: د بندګانو ترمنځ معامله او دا څو ډوله دي:

الف: اسلام ته د رابللو(دعوت» د پوره کولو قوانین:(د جهاد حکمونه)

ب: د کورنۍ قوانین:(د ازدواج، طلاق، نسب او میراث حکمونه)

ج: د خلکو ترمنځ د معاملی قوانین:(دبیع، اجاری، زراعت، اجرت او نورو حکمونه)

۲- سنت: سنت د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم کړه (فعل) وینا(قول) او تقریر دی، تقریر دی ته ویل کیږي چې دده په حضور کی مسلمانانو کوم کار کړی وی او ورڅخه منع کړی یې نه وی،

بی له شکه رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم د الله تعالی له لوري نه خلکو ته مُبلّغ(حکم رسوونکی) ؤ د قرآن مجید غوښتنه او مطلب به یې کله په وینا (قول) او کله په کړو(فعل) او کله په دواړو بیان کاوه. لکه په هغه روایت کی چی راغلی دی:«دداسي لمونځ کوی لکه چی ما وینی کوم یی» نو سنت په حقیقت کی د قرآن مجید شرح او تفصیل دی؛

سنت به د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم اصحابانو رضی الله تعالی عنهم په ګڼه سره ډیرو کسانو ورڅخه زده کړل لکه د لمانځه، زکات، روژې او حج د کولو طریقه، او ځینی به یوه یا دوو کسانو ورڅخه زده کړل او بیا به یې نورو ته رسول. مګر په یاد به یې ساتل څکه د لیك او لوست وال کسان ډیر لږ وو.

دغه دواړه (قرآن مجید او سنت) د تشریع بنسټ ؤ او دا یې دعملی کولو طریقه وه.

د سیکولیریزم خطرته پام کوی!

اسلام او ناسیونالیزم

مولوی عبدالحکیم «مجاهد»

دوهمه برخه

ناسیونالیزم دانساني ټولني سرطان

مخکي له دی نه چی د ناسیونالیزم یا نشنلیزم له وطن سره د افراطی مینی او بشریت ضد د سرطانی دانی خطر ناك جراثیم لوستونکوته وړاندی کړو، چی د نولسمی پیړۍ د استعماري دولتونو دځان غوښتنې او استثمار تولید دی، دا باید ښکاره کړای شی چی اسلام د نشنلیزم ضد اماله وطن سره د انسانانو د حقي فطری مینی مخالف نه دی چی: یو څوك یې د خپل هیواد له سردرو، سمو، غرونو او سیندونو سره لری او دهغو د سمسورولو او ودانولو دپاره په روا او مشروعه طریقه هلی ځلی کوی، د هیواد معدنیات او طبیعی زیرمې د خپلو خلکو د هوسایني او پر مختګ د پاره په معاصرو ساینسی طریقو سره په کار اچوی، پر مختللی ټیکنالوجی لاسته راوړي، څو خپل هیواد او ملت د نورو هیوادونو څخه د پرمختګ په ډګر کی وړاندی کړی او د انفال د سورت د شپیتم آیت د مفهوم د غوښتنی سره سم دیوه زورور او «Super Power» په بڼه تبارز ورکړي، او په دی توګه دنړی مظلوم ملتونه د استعمار او استثمار له شر څخه وژغوري.

د الله رسول صلی الله علیه وسلم کله چی مدینه منوره خپل وطن وګرزاوه، نو له سفر څخه د راستنیدو په وخت کی به یې چی د احد په غره پاندی سترګی مبارکی ولګیدلی ویل به یی، (دا هغه غر دی چی له موږ سره مینه لری او موږ له ده سره مینه لرو.) د الله رسول صلی الله علیه وسلم او دهغه اصحابو رضی الله عنهم د اسلامی نړی غرونو او رغونو، سیندونواو دریابونو ته عملاً شرف وو په برخه کړ چی د نړی په ملتونو کی یې له یوی خوا دمادی پر مختګ لوړی څوکی ته ورسول او له بلی خوایی په معنوی لحاظ د انسانی کرامت او بشری آزادی هغه ارزښتونه انسانی ټولنی ته سوغات کړل چی بشریت یې تر اوسه پوری په کوم بل ایزم او یا مفکوره کی نمونه نه وه لیدلی.

خو دنبی علیه السلام ددغه ستر انقلاب زیر بنا «Infra- Structure» نشنلیزم یا ملت پالنه نه وه بلکی دهغه انقلاب اساس او زیربنا د الله تعالی ستر کتاب قرآن کریم ؤ. د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: «بی شکه چی خدای تعالی ددغه قرآن په اساس ځینی قومونه لوړه وی (ترقی ورکوی چی عمل وړباندی وکړي) او ځینې نور ښکته کوی (چی عمل ورباندی نه کوی) (مسلم)

له وطن سره د فطری مینی تاریخ خو د انسان تمدن له اساس څخه را پیل شوی دی، چی ډیر لرغونی دی، خو د ملت پالنی دغه اصطلاح چی د نشنلیزم په نامه باندی یادیږی یواځی د نولسمی پیړی د استعماری او استثماری هیوادونو تولید دی، چی دنورو هیوادونو او ملتونو له طبعی زیرمو څخه یې د استفادې په منظور، د خپلو خلکو د حاکمانه او استبدادي روحیې دلوړولو دپاره دیوی مفکوری په توګه په کار اچوله. څو د نظامی، سیاسی او اقتصادي برتری په اساس د مستعمره هیوادونو خزانی لوټ او خلك یی د ځان غلامان کړی او بایی د غلامانو په توګه استعمال کړی. او بالآخره، محکومو ملتونو په همدغه روحیه د سپاو هیوادونو د آزادی دپاره مبارزی پیل کړی، او ځانونه یې په ظاهري ډول د استعمار له تسلط څخه آزاد کړل، څو دیوی بشپړی مفکوری دنه لرلوله کبله په فکری او کلتوری لحاظ اوس هم د هغوی غلامان او دهغوی ترتاثیر لاندی ژوند کوی.

که لیږ دانسانی ټولنی تاریخ ته ځیر شو دابه راته څرګنده شی چی جرمنی، انګریزی، روسی، امریکایی، فرانسوی، ایتالوی، جاپانی... ملت پالنی نړی د جګړو په جهنم باندی بدله کړه او په میلیونونو بی ګناه انسانان یې د جګړې په اورونوکی وسوځول. دوه ستری نړی والی جګړی د همدغو ملتونو د ملت پالنی او استعمار په نتیجه کی رامینځ ته شوی او د دریمی نړیوالی جګړې د پاره یې د ملی لورتیا په خاطر داتمی وسلی تیاری په درز روان دی چی کله به نړی د اورپه کوره باندی بدله کړی.

غوارم د نشنلیزم یا ملت پالنی ددغی خطرناکی مفکوری جراثیم په خپله دهغو اروپایی مفکرینو له کتابونو څخه دلوستونکو د پاره اقتباس کړم چی ددغی مفکوری اورونه او کړاونه یی په خپله مشاهده کړی او لیدلی دی، څو وکولای شو له شر او خطر څخه یی ځانونه وژغورو، او د اسلام دبشپړی، عادلانه او بین المللی مفکوری څخه پیروی وکړو چی نړیوال «اسلامی امت» یی د بشریت د پاره نهایی منزل او هدف ټاکلی دی.

۱- میسن په خپل کتاب «Creative Freedom» کی لیکی: «د جګړی اساس نشنلیزم دی، څنګه چی د افرادو تر مینځ د شخړو او جګړو بنسټ د انسان نفس او انانیت احساس او جذبه وی، همدا راز د ملتونو تر مینځ د خونړیو جګړو تاریخ هم د همدغی جذبی په اساس جوړ شوی دی.

۲- آدم د هیجدوس: په خپل کتاب «The State of The World» کی لیکی:

«دا حقیقت دی چی څمونږه د عصر دواړه نړی والی جګړی د نشنلیزم نتیجه دی، او څمونږه په زمانه کی همدغه له ټولو نه لوی سیاسی قوت استعمال شوی دی؛ د دواړو نړیوالو جګړو تر شا دنشنلیزم اصول او احساسات وو چی بالآخره یې نړی په ډول ډول ملی دولتونو باندی وویشله. او ددی په نتیجه کی فطرتاً هیوادونه له یو بل سره د مسابقی په بنسټ د یو بل په خلاف په جګړه شول. نو ددا ډول بدوحالاتو په موجودیت کی، هیڅکله یو صالح ټولنیز نظام نه شی را مینځ ته کیدلی.»

٤- پروفیسر کوبن : په خپل کتاب «The Crisis of Civilisation» کی لیکی:

«دملت پرستی احساس له نفرت څخه پیدا کیږی او دښمنی هغه ته وده ورکوی. یو ملت دځان د موجودیت احساس هغه وخت کوی، چی له بل قوم او ملت سره په ټکر کی شی. وروسته د دغو ملتونو د دښمنی او جګړی جذبه یواځی د ملی یووالي په بشپړتیاپای ته نه رسیږی، بلکی له خپلی خپلواکی او آزادی څخه وروسته په هغو ملتونو باندی خپل زور او طاقت استعمالوی چی د خپلواکی غوښتونکی وی... له دی څخه داسی نتیجه اخلو چی نشنلیزم د دولتی سیستم اساس ګرزول ډیر خطر ناك کار دی.»

٥- پروفیسور ویلیم برنټو: په خپل کتاب «Foundations of Human Conflicts» کی لیکی :«د نن دیوی لویی وچی مثال داسی ګرزیدلی دی، چی ډیره حاصل خیزه کرونده دی او انسانانو په ډیر نامعقولیت سره دهغی په مینځ کی دیوالونه درولی دی، په سمسورو درو باندی یې د غرونو، سیندونو او سرکونو پولی راتاوکړی وی څو د انسانانو یوه ډله له بلی ډلی څخه جلا کړی. د نشنلیزم جذبه او احساس هغه سیمنټ دي چی ژوندی حبشی یی سره ټینګی کړی او په دی توګه انسان په خود ساخته بندیخانو کی په خپله بندی دی.» په یو بل ځای کی لیکی: «نشنلیزم د انسانی ټولنی د یووالي په لارکی له ټولونه لوی خنډ دی... اوس د انسان په وړاندی یواځی دوه لاری دی: یا به یواځی د خپل ملت بنه غواړی چی په دی توګه به دجګړو لړی په نړی کی روانه وی، او یا خو به دکوم بین المللی اتحاد او یووالی لاره نیسی څو له جګړو څخه ځان وژغوری.»

٦- الدوس هوکسلي په خپل کتاب «(Science Liberty and Peace» کی لیکی:

«نشنلیزم د اخلاقی فساد او بربادی عامل دی، هغه په دی توګه، چی په ملت پالنه کی انسان د واحد خدای او انسانی کرامت په عقایدو باندی دبطلان کرښه را کاږی، او دهغه په ځای د جلا والی تکبر، انانیت او خود خواهی فکرونه مینځ ته راځی.»

۷- پروفیسور هینزکوهن په خپل کتاب «Nationalism in The Middl East» کی لیکی: «اوس غواړم خپله خبره بالکل صافه او له هری غلطی څخه پاکه وکړم، چی نشنلیزم یو لادین تحریك دی، ځما په عقیده دغه تحریك یا خوځښت یواځی په لادینه ټولنه کی وده کولی شی.»

د پورتنیو عالمانو د افکارو او نظریاتو څخه دا را څرګندیږی چی نشنلیزم یا ملت پالنه په نړی کی د جګړی، نفرت او تعصب احساسات را پاروی.

دسولی او تحمل اصول تر پښو لاندی کوی، په انسانی ټولنه کی غیر فطری تقسیمات او ویشونه کوی. هر ملت بل ملت له ځان څخه کم او هیڅ بی ګنی. په انسانی ټولنه کی اخلاقی ارزښتونه له مینځه وړی.

(څلورم مخ)

استاد سیاف څنګه اوولی له صحنی نه ګوښه کړای شو؟

حق جو

استاذ سیاف چی څومره د تیك توم خاوند ؤ هغومره لوی استعداد او ښه مواصفات یې لرل، ښه پوهه، ښه فصاحت او استدلال، له اسلامی جهاد سره ښه مینه، له مجاهدینو سره زیات مالي کومکونه، ان تردی چی له خپلو مجاهدینونه یې نور مجاهدین لازیات پالل، خپل منځی جنګونه لکه څومره چی بد دی هغومره یی بد ایسیدل او په هغو کی چندانی ککړ هم نه ؤ، له منورو او پوهو خلکو سره ښه ناسته پاسته، دنړی له اسلامی تحریکونو سره زیاته خواخوږي، د خوارانو او خصوصاً یتیمانو کومك، د مهاجرینو د اولادونو د ښوونی او روزنی په هکله په زړه پوری اهتمام او ترټولو زیات په افغانستان او نړی کی د اسلامي حکومت او نظام د او درولو او ټینګولو ارمان؛

د ده د دغو بارزو ښیګڼوله امله په ډیرو خلکو ښه لګیده او د افغانستان او اسلامی امت د راتلونکو لپاره یی ډیره ستره زیرمه ګاڼه، دیرو د افغانستان د آینده لپاره په زړه پورې قیادت باله او په زړه کی نی یو اسلامی او ملی زعیم په توګه منلی ؤ.

مګر هغه چا چی د پښتو ژبی او دری ژبی د توپیر، د قومی او سمتی ترجیحاتو د لعنتونو په رنځ اخته ؤ؛ او یا هغه چاچی د پخوانی مشورتی شوری د شکست پړه یی ورباندی اچوله او کسات یی ورڅخه اخیست؛ او یا هغه چا چی دی یی د خپلی سیاسی راتلونکی لپاره زهر قاتل باله، دده دومره وزن او اعتبار تحمل یی نشوای کولی غوښتل یی چی دی یو مخیزه له صحنی نه وباسی، په سیاسی او معنوی مرګ یې ووژنی؛

استاذ سیاف یو وخت د افغانستان د مؤقتی او دائمی حکومت په پوستونوکی د کمونیست رژیم پاتی شونی (بقایا)، مشتبه خلك او ایران پلوی شیعه ګان هیڅ نه مثل او په سختی سره به یی تردیدول. بیا چی کله د استاذ رباني د موقت حکومت په حنګ کی وودریده هلته یې هم تر یو څه وخته پوری د منکراتو په ضد مقاومت کاوه، نه یې غوښتل چی ښځې د کابل په تلویزیون کی ځانونه ښکاره کړی، یا بی دینه او مشتبه خلك د حکومت په چوکیو باندی کنټرول شی؛

په دغه وخت کی په ډیره زړنګی سره دده لپاره غټی غټی دسیسی په کار واچولی شوی چی له شیعه ګانو سره یی په یوه اوږده، بی هدفه او زورور جنګ کی راګیر کړ، د دواړو خواوو د مالی او ځانی تلفاتو ګراف ډیر پورته ولاړ، ډیر خواران خلك یی تر منځ میده میده شول او بی شمیره مسلمانانی خوارګی تورسری پکښی بی پته او له بی پتی نه وروسته د بدن غړی او سرونه ورنه غوڅ او په خورا بی رحمی سره ووژلی شوی (انالله...)همدارنګه د حکمتیار صاحب له حزب سره په دراننده جنګ کی اخته کړای شو. هغه حزب چی د هغه مشر او نور غړی دده ډیر نژدی ملګری وو؛ په دغو جنګونو کی دومره اوږده موده مصروف پاته شو چی د اسلام او مسلمانانو لپاره یی څه کولای شول هغه هر څه په ځای پا. شول، اعتبار ته یی صدمه ورسیده شخصیت یی مجروح شو!

(څلور

د طالبانو د اسلامی پاڅون ضرورت او مشروعیت

نعماني

دوهمه برخه

د بابه جان او خدای داد هزاره په څیر چی د کابل امنیتی قوی مشر او بل د کشتمند د ملیشی سترجنرال ؤ بیرته یی د اسلامي دولت د سترو قهرمانانو په حیث ومنل آن تر دی چی د بابه جان زندیق له اجازی څخه پرته هیڅ مجاهد مسلح په کابل کښی نه شو ګرځیدلی، دوی ژوندی ښخ شوی شهیدان او د هغوی ویرګیری ګونډی او مستضعف یتیمان هیر کړل، حتی هغه تنظیمی واعظان چی خپلو مداحی تقریرونو ته یی د کونډو او یتیمانو په یادولو د اسلامی درد او احساس رنګ ورکولو په مزو او چرچو اخته شول، په ټول ملك کښی د وحشت، بربریت، ظلم او تشدد حکمرانی شروع شوه، قتل او غارت، فحشاء او نور اخلاقي فسادات په ټول ملك کښي عام او هیڅ ظلم او تیری، ګناه او خدای ناترسی، جرم و نه ګڼل شو په ټول افغانستان کښی هیڅ ډول قانون وجود نه درلودل حتی د فاشیزم ځنګلی قانون چی هرڅه به د زورور وی یا هر زورور به کمزوری وژنی حکمفرما ؤ . په کابل کښی د ثور ۱۳۷۱ هـ ش څخه راکټي باران شروع وو، علماء، صالح قوماندانان او قومی مشران حتی د نړی خوا خوږی عالمان او صالحان په وار وار د سولی او مصالحی لپاره راغلل مګر هیڅ ګټه یې ونکړه د دریو کالو په دوران کښی مسلمانان ددی وحشت او ظلم څخه تنګ شول او هرچا دا دعا کوله چی یا الله(ج) یو دریم صالح قوت را پیدا کړی چی پدی ملك کښی امن او استقرار او اسلامی نظام عملی شی، قسم په خدای(ج) که چیرته پدی ملك ډیروړانو یو اتحاد کړی وای او ددی مشرانو پر خلاف دریدلی وای نو ملت به ورسره خامخا ملګرتیا کړی وه.

مګر د متعال خدای(ج) د افغانستان په مسلمانانو زیات رحم وو چی یوصالح او خدای پرسته طبقه چی د الله جلت عظمته په عبادت خانو کښی لوی شویدی او د اسلام د مقدس شریعت پاك احساس ورسره ؤ د دینی مدرسو د طالبانو د اسلامی پاڅون په نوم راپورته شول او دایی هوډ وکړ چی تر هغه پوری چی په دی ملك کښی اسلامی نظام نه وی عملی شوی او امن او استقرار نه وی راغلی اوټولی اسلحی اول بیت المال او بیا ، اسلامی اردو ته نه وی سپارل شوي تر [illegible] به په قراره نه کینو، هغه وو چی د محمود غزنوی او صلاح الدین ایوبی په څیر ناقرارو د ملك اصلی بچیانو له سپین بولدك څخه شروع وکړه او پر له پسی چی پنځه لس ولایتونه د متعال خدای(ج) په مرسته ونیول. په لومړی سرکښی یی تقریباً یو تنظیم په ګلکه مقابله کوله او پخپلو ناروا پروپاګندو کښی طالبان د برطانیی ایجنټان بلل او د هغه تنظیم مشر به په خپلو تقریر کښی ویل چی زه پوره ثبوت او قانونی اسناد لرم چی د طالبانو پاڅون د برطانیی د یو سفیر له خوا تمویل او اداره کیږي. په هغه وخت کښي به د کابل حکومت واکدارانو ویل: طالبان د ملك اصلی بچیان دی په اسلامی احساس راپورته شویدی او د ملك د سرنوشت په ټاکلو کښي حق لری او داسی ډله ده چی کله د غلو څخه یو پاټك ونیسي نو هلته د قرآن کریم دبخاری شریف او هدایی درسونه شروع کوی، موږ ورسره نظامی، مادی او معنوی کمك ته تیار یو. او [illegible] ابل حکومت ځینو پلویانو به ویل چی طال[illegible] به لدې شرعی احساس راپورته شویدی زموږ [illegible] راپورته کړیدی، موږ ورته دری سوه لکه افغانی او زیات شمیر بوټ او جمپر او کمپلی وربښلی دي.

(نور بیا)

د ادب ملغلرې

موږه طالبان یو

ملا اسد الله حنیفي

موږه طالبان یو په وطن کښې شریعت غواړو
بنه نظام د امن، سولې، ژوند داخوت غواړو
موږه طالبان یو
موږه طالبان یو د الله د دین ساتل کوو
دامو وجیبه ده الهی آئین ساتل کوو

جوړ په مساوی قانون نظام او حکومت غواړو
موږه طالبان یو په وطن کښې شریعت غواړو
موږه طالبان یو
موږه طالبان یو مدرسونه خوځېدلی یو
خاص د خدای دپاره دوباره را پاڅېدلی یو

ورونړو مجاهدو ستا سو پت ستاسو عزت غواړو
موږه طالبان یو په وطن کښې شریعت غواړو
موږه طالبان یو
موږه طالبان یو جوړوو به اسلامی نظام
نه منو د ډلو د ټپلو ځانګړی نظام

ګرانو وطن والو سوکالی دخپل ملت غواړو
موږه طالبان یو په وطن کښې شریعت غواړو
موږه طالبان یو
موږه طالبان یو دافساد زغملی نشو نور
باب بربادول د تیر جهاد زغملی نشو نور

کړی مو قیام دی دجهاد دوباره پت غواړو
موږه طالبان یو په وطن کښې شریعت غواړو
موږه طالبان یو
موږه طالبان یو ستر بدلون موراوستلی دی
چور و چپاول، جبرو وحشت موټکولی دی

کړی مو پاڅون دی جوړ نظام دعدالت غواړو
موږه طالبان یو په وطن کښې شریعت غواړو
موږه طالبان یو
موږه طالبان یو امن، سوله مو راوړی ده
دوست خوښی منی خلکه دښمن هم دا منلی ده

لا د(حنیفي) قلم څپاند په حرکت غواړو
موږه طالبان یو په وطن کښې شریعت غواړو
موږه طالبان یو
پېښور۲/۱۲/۱۳۷٤هش

ایمان سره

ملامحمداسحاق«نظامي»

دا دنیا فانی ده ورونړو مرګ خوندګړی ایمان سره
مرګ دشهادت ښائیږی شان د مسلمان سره
ژمولید په سترګو ډېر ځوانان له دنیا تیر شولو
ډېر قهرمانان پهلوانان له دنیا تیر شولو
هیچا نه څه وړی نه به ئی ویسی له خپل ځان سره
مرګ دشهادت ښائیږی شان د مسلمان سره
وګوری خپل ملك ته پتامه ځو پاچاهان تیر شول
څوك په څه نو مونو څوك شانداره ګیدړان تیرشول
اوس چه په تخت ناست دی تابلد ښکاری جریانی سره
مرګ دشهادت ښائیږی شان د مسلمان سره
ده هم نه څه جوړکړل نه به جوړ کړی بی شرمی نه غیر
نه به څه ترلاس کړی نه بل شان دغلامي نه غیر
نه شی تیغ کتلی په نامه نومی افغان سره
مرګ دشهادت ښائیږی شان د مسلمان سره
برخه ازلي ئی ده خرابه دوزخی ښکاری
ټولو ده منلی چه دا شاه شجاع ثانی ښکاری
نه ئی فکروکړونه ئی سر کوز کړو ګریوان سره
مرګ دشهادت ښائیږی شان د مسلمان سره
نور د پاك اسلام دین طالبان ورته راپورته دی
ټول په یوه چیغه عالمان ورته راپورته دی
زر به په دوزخ کښې سرنګون شی له شیطان سره
مرګ دشهادت ښائیږی شان د مسلمان سره
فرض ده په مونږ ټول له طالبانو سره یورته شو
نور کاروانه پریږدو بس روان و دغه لورته شو
ورونړو راشی پورته شی وعده وکړی رحمن سره
مرګ دشهادت ښائیږی شان د مسلمان سره
نور نو دغفلت او ځانځانی وختونه تللی دی
نور نو طالبان او ټول ملت یو ورونه شویدی
دی هم «نظامی» ولاړ روان لدی کاروان سره
مرګ دشهادت ښائیږی شان د مسلمان سره
دا دنیا فانی ده ورونړو مرګ خوند ګړی ایمان سره
مرګ دشهادت ښائیږی شان د مسلمان سره

دقبر منځ کی

لکهوال قاری عبد محمد حقانی

د قبر منځ کښې یو مجرم داسی ژړا کوله
خدایه معافی راته اوس وکړی ما خطاکوله
ما په دنیا کښې خدایه ډېر ډېر ګناهونه کړی
په غریبانو عاجزانو می ظلمونه کړی
ماته دنیا کښې عاجزانو آزارونه کړی
ما په ژړا د عاجزانو څه پرواکوله
قبرمی هیر ؤ ځکه ما دا ناروا کوله
تاته خلاف سی په دنیا کښې تماشی کړی دی
چرس او سګرټ هم د شرابو می نشی کړی دی
په ناپوهی سره می واړه عیاشی کړی دی
خو څه پروائی په ژړا زما مولا کوله
خدایه معافی راته اوس وکړی ما خطا کوله
اوس می په هغه ناروا ؤ ندامت کړی دی
قبر می هیرو ځکه ما دا ناروا کوله
بیا په ځواب کښې ورته پاك غنی سبحان ویلی
یو لك څلیریښت زره ما پیغمبران لیږلی
په مخ د ځمکی درسره ؤ عالمان ډېر ښکلی
هر یو عالم درته قیصه د دین زما کوله
ته خو ګمراه وی تا هغوی پوری خندا کوله
خدایه معافي راته اوس وکړی ما خطا کوله
مادرته ویلی بنده زه چه درته هیرنه شمه
د دنیا مینه کښې له تاته تیر بیرنه شمه
تابه ویل (ای بنده) زه به چیری ګیر نه شمه
ستا په جومات کښې د آذان چغه ملا کوله
! به لیدی چه دغه وخت دی څه سودا کوله
خدایه معافی راته اوس وکړی ما خطا کوله

ارسالی: قاری عبدالقدوس نیازی

بدخشان نام پاکت را بنازم
طلاب قهرمان عزم سفر کرد
شهادت شیوه مرد مسلمان
بدخشان نام پاکت را بنازم
سمیع الحق شهید غرقه درخون
خلیل الرحمن رفیق جان بازم
بدخشان نام پاکت را بنازم
شهیدان دلیر شهر میدان
حمیدالله حمیدی را « یزدان
بدخشان نام پاکت را بنازم
هدایت قاری اعلای قرآن
که قطبش نو جوان پاك طینت
بدخشان نام پاکت را بنازم
ابر مرد شهید عبدالخبیر جان
جمیلی نوجوان نو خروشم
بدخشان نام پاکت را بنازم
هدف مندشهید عبدالرحیم جان
فدای همتت عبدالاول جان
بدخشان نام پاکت را بنازم
ز افرازش فرازم نام کرده
چو متان طالب رزمنده ما
کریما کردګارا رحم فرما
بدخشان نام پاکت را بنازم
نیازی باش دایم مرد غم خوار
بدخشان نام پاکت را بنازم

ترا طلاب پاکت را بنازم
شهادت را بخود دُرّ ګهر کرد
جهاد پاك را او کرد اعلان
ترا طلاب پاکت را بنازم
دورخسارت بنازم بود ګلګون
شهید راه مرد و پیشتازم
ترا طلاب پاکت را بنازم
یکی فضل خدا دیګر لطیف جان
برفتي از کف ما نزد رحمن
ترا طلاب پاکت را بنازم
ز جوش همتش دشمن پریشان
که جوش غیرتش طاغوت بشکست
ترا طلاب پاکت را بنازم
فدای غیرتت در راه یزدان
شهید با هدف مرد بهوشم
ترا طلاب پاکت را بنازم
که جان نازکش را کرد قربان
برفتی از برم با سوي منان
ترا طلاب پاکت را بنازم
شهادت را بخود اعلان کرده
شهید لاله ګون فرخنده ما
تو ای پروردګار را رحم فرما
ترا طلاب پاکت را بنازم
صبور و شاکر و خادم دیندار
ترا طلاب پاکت را بنازم

دعا

(احمدشاه وحدت)

خدایه د اسلام نشان بالا په خپل احسان کړی ته
کل مسلمانان د خپل اسلام نګهبانان کړی ته
ربه اتفاق د دوی مدام لری چه هیو وی تل
خواروزارئی خدایه په هرځای کښې دښمنان کړی ته
تاج د سلطنت کړی د مسلم قوم همیشه په سر
بیانی مستقیم د شریعت په لار روان کړی ته
ربه دا «وحدت» چه دی خیرخوا دخپل اسلام مدام
بیا په زنکدن کښی ئی خوشحاله په ایمان کړی ته

دبشر ناجي

عبدالباري (غیرت)

ای ناجی دټول بشره را پیداشه
ای حاکم د بحر او بره را پیداشه
جهان خلاص کړه دوحشت له منجلابه
ای وارث د پیغمبره را پیداشه
ای پیغام دانسانیت لویه فاتحه!
له خندق، بدر خیبره را پیداشه
چه دسولی او اسلام، عدل سمبول شي
ای جهان ته معتبره را پیداشه
توری شپی چه دبیدادته ختم ورکا
ای رڼا د سپین سحره را پیداشه
چه د شر او دفتنو اوروته مړه کا
ای د خیر سمندره را پیداشه
دحراء له معطری پاکی سیمی
دمکی له بوم او بره را پیداشه
دابی درده دابی حسه زړونه ویش کړه
د کعبی له لوی منبره را پیداشه
زړونه ټول دضلالت په اورکباب دی
جهان ټول ډك شوله شره را پیداشه
طواغیت اوشیطانان له منځه یوسه
دمهدی پاکه لښکره را پیداشه
په دنیا کی عدالت توره خپره کړه
ای نائب دلوی عمره را پیداشه
منتظر درته خواره مسلمانان دی
د اسلام د دین رهبره را پیداشه
زه دی وینم چه رادرومی خوتلوار کړه
د غیرت د زړه کوثره را پیداشه

داحمد شا بابا وینا

ماخپل درانه مشران راټول کړی هغوی ماته مشورګاراکړی، چه لومړی خپل وګړی په یوه مرکز سره ورغونډ کړم او خپل اصلی هیواد په پخوانی حدودو کښی جوړ کړم او بیا د سرغړوونکو غوږونه ورتاو کړم.

دمیرویس نیکه وینا

ای افغان اولسه! په هر کار کښې شرافتمندانه وضع کوی. په هر حال کښې یو او متحد و وسی. معنویات او احساسات مو قوی کړی. هیڅکله دښمن ته سر مه ټیټوی.

ټولورنکی لعل محمد «برهانی»

داکوره د کمپونو په جلسه کی د مولوی احسان الله «احسان» وینا

د استادانو، روحاني پلرونو او دټولو قهرمانو مجاهدینو او مهاجرینو په اجازه.

له ټولونه لومړی دومره وایم چه حضرت امام شافعی رحمه الله فرمایلی دی:

«که ته ټول کوشش دی دی لپاره وکی چه داټول انسانان له ځانه څخه راضی کړی د دی لپاره لاره نه شته.»

ته خپل نیت او عمل ټول د خدای(ج) لپاره خاص وګرزوه دا چی خدای جل جلاله راضی شی د خدای(ج) خاص بندګان به راضی کیږي نور مخلوق که راضی شي که نه خو ستا د پاره به د خیر مسئله داوي چی الله تعالی راضی شي.

ورونړو زه دعا کوم چه خدای جل جلاله دا زمونږ دریدل په دی ځای کی د الله(ج) دی دین په غرض وګرزوی او دا ستاسو راتګ دلته چه په واقعه کی دی دین په غرض وه الله(ج) دی دوچنده دی دین لپاره وګرزوی.

تاسی هغه مسلمان او قهرمان ملت یاستی چه په دنیا کی دی جهاد نوم او نمونه نه وه، په ټوله دنیا کی ستا قهرمان او مسلمان ولس دی جهاد روحیه راژوندی کړه، په کتاب کی خو د جهاد نوم ؤو خو په دنیا کی چا تصور هم نه کاوه چه د روس او امریکا مقابله به څوك وکولای شی. ټولو خلقو دا حساب کاوه چه کوم یولوی ده روس، که امریکا! یواځې د افغانستان قهرمان ملت وو چه خکلو ته یی دا ور وښودله چی خدای جل جلاله لوی او نه ماتېدونکی قوت دی.

له ټولی دنیا نه یی د روس او امریکا د لوی والی سوچ ختم او دایی ورونښود چی یواځې یو الله جل جلاله دی چه د هغه عبادت دی وشی. څه وخت وړاندی به د روس له یو وړوکی غلام نه هم خلق په ویره کی وو، تاسو ورونښوده چی غیر له خدای جل جلاله نه هر څوك چی وی د هغوی مقابله کیدی شی هغوی د شکست سره مخامخ کیدی شی. ای د افغانستان ملته هغه ته وی هغه روس چه چاپی د مقابلی سوچ نه کاوه او امریکا حتی ویریده یواځې ته وی چه په ګونډو دی کړ او اویا کلنه امپراطوری دی ورخته کړه.

هغه ته دیجه په خپل جهاد سره دی دخپلې دیر اسلامی او غیر اسلامی هیوادونه دی آزاد کړه هغه څه چه ... د ستاسره مناسب دی زیاتوېلی نه شم، زه دیو څو مسائلو په هکله بحث کول غوارم.

۱- د جهاد حقیقت
۲- د جهاد فضیلت
۳- دجهاد هدف

د طالبانو تحریك ولی شروع شو، او طالبانو د تحریك څخه هدف څه دی.؟ د طالبانو د تحریك په مناسبت د نوی والو او دښمنو عناصرو تورونه او دهغوی ځوابونه:

جهاد په یوه تعبیر د، دین د فرائضو څخه یوه فریضه ده لکه لمونځ حج، روژه او داسی نور. په بل تعبیر جهاد عبارت دی د جنګ څخه، جنګ عبارت دی د پلار وژنی ورور وژنی او نورو انسانانو له وژنی څخه، دا چه په خپل ذات کی یو عمل قبیح ده خو چه یو انسان یو عمل چه هغه قبیح لذاته کوی هم خدای او هم د هغه پیغمبر صلی الله علیه وسلم راضی کیږیٔ او هغه ته د هغه چا په نسبت فضلیت ثابتوی چی له جهاد څخه ناست قاعد وی داولی؟ وجه یی داده چه په دی عمل یو داسی اثر مرتب دی - هغه اثر اصلاً ډېر نیك دی او خدای جل جلاله یی راضی کیږی او د خدای جل جلاله پیغمبر صلی الله علیه وسلم یې راضی کیږی او دخدای (ج) مخلوق هم یې راضی کیږي هغه اثر د مسلمانانو تر منځ وحدت او ذات البینی شخړی ختمول او عزت ورکول او کافرانوته عبرت ورکول او داسی نور...! له دی وجی نه جهادته حسن لغیره ویل کیږي.

په افغانستان کی پنځلس کاله جهاد د روسانو او کمونستانو پر خلاف وشو، یو نیم ملیون شهیدان مو ورکړل، ددی عمل مرتکب خو شولو چه قبیح لنفسه دی د انسانیت د وژنی د پاره توره او ټوپك را پورته کول، آیا هغه څه چه د هغه لپاره دا قبیح عمل حسن ګرزیدلی ؤ یعنی اسلامی نظام او اعلاء کلمة الله دا لاس ته راغلل؟

نه یواځې دا چه دجهاد د هدف په لاس رانه غی بلکه داسی بربریت په داسې حال کی راغی چه د اسلامي حکومت په هوډ یو تحول هم راغی- یو اسلامی جمهور رئیس هم کیناست، یوه مسلمانه کابینه کابل ته ولاړه، د خلقو سره دا امید ؤو چه دلته به اوس دجهاد هدف تر سره کیږی افغانستان چه د جهان یوه ټوټه ده په دی کی به خدای (ج) نظام قائمیږی د دی فیصلی به په شریعت کیږی دلته به ټول خود ساخته قوانین له مینځه ځی د یتیم او کونډی په سر به لاس تیریږی د یونیم ملیون شهیدانو ارمان به پوره کیږی او دهغوی به پوښتنه کیږی، دهغوی د اولادو په باره کی د هغوی د احتیاجاتو او د تعلیم فکر کیږی دامېدونه ؤ.

نه یواځې دا چه دا یاد شوی کارونه ونه شول بلکی ددی ټولو ارمانونو او امیدونو په ضد خلق ولاړل، هغه کمونستان چه د ملت په وینویی منګلی سری وی او د ملت په بدنامی باندی بدنام ؤ او د روسانو نوی غلام او د کمونستی حکومت لپاره د ملا تیر ؤ هغه ته یی ترفیع ورکړه، ایا دا د دین غوښتنه وه؟ دادی جهاد غوښتنه وه؟ دا دشهیدانو د وینو غوښتنه وه؟ که دا دی کونډی او یتیم غوښتنه وه؟

پرون د لغمان څخه د یو شهید ښځی پیغام رالیږلی ؤ چه د ما میړه خو په نیمروز کی د باطلو قوتونو مقابل کی خپل ځان قربانی کړی خو زه تاسوته اطمینان درکوم چه زه یو شیږ کلن زوی لرم دما د شپږ کلن زوی به هم تر هغه وقته د باطلو قوتونو په مقابل کی سپروی څو چی ژوندی وی- الله تعالی دی اجرونه ورکړی- د شهید دکونډی او یتیم سره خو دا فکر وو چه زه به کمونیستان محاکمه کوم- د هغوي دا آرزو وه چی مونږ به د کرېلن په ماتی د اسلام بیرغونه رپوو، کفر څه به شکست ورکوو، خو د دوی اعمالو داټولی ارزوګانی له خاورو سره خاوری کړی. خلقو بیا ویل چه خیر دی، د دی رئیس جمهور دوره به تیره شي، دوه میاشتي ده ربانی چی منسوب رب ته دی هغه به راځي او اسلامی نظام به نافذ کی، امنیت به راولی د جهاد ارمانونه به ترسره کړی کمونستان به مجازات کړی، ده نه یواځې دا چه کمونستانوته څه وو نه ویل او د یتیمانو په سرېی لاس نه کیښود بلکی هغوی یی په لوړو رتبو وه لګول.

جنرال بابه جان یی دګارنیزیون قومندان کړ، د مصلح په نوم یو کمونست چه په ریاست جمهوری کی اداری رئیس ؤ، دا چی وژل کیږی څو ورځی د کابل په رادیو کی د هغه تاریخ بیانیږی. کله چه خلك د ربانی څخه مایوسه شول چه ده خو خدای تعالی او قرآن مجید ته شاکړه، کمونستانوته یی مخه او دغلامی سر یی ورته ټیټ کړ.

بیا ملت د انجنیر صاحب ګلبدین حکمتیار ته سترګی واړه ولی چه دی به په افغانستان کښې د اسلامی نظام د عملی کولو دپاره کار وکړی- خلقو به په دی خبره تینګار کاوه چه دایو نوجوان قائد دی او له خپلی خبری څخه به انحراف نه کوی، شاید دا سړی به په آینده کښې د اسلام دپاره کار وکړی. خو له بده مرغه ملت بیا له مایوسی سره مخامخ شو- د خلقو کوروته او ناموسونه لوټ شول، کابل چه پر امنه ښار وو هلته وضعه له دی نه هم زیاته خرابه وه، د ښځو، پیغلو، نجونو او حتی چه له هلکانو سره بدکاری کیدله چه له دی نه د کابل اولس ډېر زیات پریشانه وو. خو ربانی، سیاف، مزاری او نورو یې فرهاد نه اوریدو یایي چاره نه لرله چه د هغوی دا مشکل حل کړی.

د طالبانو اسلامی تحریك له استاد سیاف سره دا ښیګنه وکړه چه د هغه لوی رقیب مزاری له بینه لری کړو، خو د استاد سیاف تشخیص نه اوګوره چه طالبانو ته به یی د شهید په ځای د «مردار» لفظ استعمالوو، مونږ بیا هم د خبرو لاره غوره کړه، خو استاد سیاف له خبرو څخه ډډه کوله او مختلفی حیلی او بهانی یی کولی، مونږ ورته اوویل چه صحیح ده تاسو یوه طرحه جوړه کړی خو شرط به پکښې داوی چه لفظ اسلامی، او عملی به پکښې ذکر وی، ځکه چه ملت د اسلامی حکومت او اسلامی طرحی څخه پرته هیڅ نه غواړی.

استاد ربانی چه په اقتدار کښې د پاتی کیدو دپاره مختلفی هلی ځلی کوی، کله له حکمتیار خپل صدر اعظم مقرره وی، کله له دوستم څخه د جهاد فتوی بیرته اخلی. او ورته وایي راځه چه سره یوشو، کله له خلیلی سره خبری کوی او داسی نور، مونږ ورته وایو چه صحیح ده مونږ ستا صدارت منو، خو په دی شرط باندی چه یوځل دی ربانی، سیاف او مسعود په واضحه توګه د رادیو د لاري اعلان وکړی او وو دوایی چه «روسیه مرده باد»، موږ نور د روس غلامی نه منو، اسلامی نظام د عملی کړی، مونږ دی ته تیار یو چه غزنی، کندهار، هرات او داسی نور ځایونه ورته پریږدو، خو که داسی نه وی، مونږ داځایونه چاته وسپارو، ایا غلو او قطاع الطریقو ته یې وسپارو، آیا ملت به مونږ ته د دی کار اجازت راکړی-

له حکمتیار سره مو هم د خبرو لاره نه د ترلی هغه مخکښی ورځ، کښی د شوری یو معتبر غړی را لیږلی وو چه زه له حکمتیار سره خبروته کښېنم،ماورته وویل چه دا خلق څه تنګ لاره نه لری، صرف د اقتدار دپاره کوششونه کوی. کله دوستم له ځان سره ملګری کوی، کله ربانی او کله نور، تاسو به خپله اوریدلی وی چه هغه مخکښې ورځو کښې یې له ربانی سره څه مذاکرات شوی دی، د ربانی اداری له طرفه د صدارت عظمی د وزارت داخله او وزارت خارجه پیشکش شوی دی، او دوی سوچ وربانذی کوی، لګیا دی.

مونږ د هغه چا غلامی نه منو چه پخپله غلام وی، د افغانستان خلقو د روس په خلاف یو پاك او سپېڅلی جهاد وکړو او روس یی ټوټې ټوټی کړو، د افغانستان خلقو د نړی مسلمانانو او غیر مسلمانانو ته دا فکر ورکړو چه روس یو نا قابل شکست طاقت نه دی، نن تاسو ګوری چه په چیچنیا کښی یو کم تعداد مسلمانان لګیادی او روسی ځواکونه یی له سخت مشکل او ناکامی سره مخامخ کړی دی، خو له بده مرغه زمونږ هغه جهادی رهبران چه پخپلو لاسونو روسیی ته شکست ورکړی وو، نن ورځ بیا په دی عقیده دی چه بغیر له روسی نه حکومت نه چلیږی، بغیر د روسی له اکمالاتو نه په اقتدار کښی پاتی کیدل نا ممکن دی مونږ لعنت وایو په هغه پادشاهی باندی چه غلامی ورسره تړلی وی مونږ ته ملنګی قبوله ده خو چه وقار او آزادی ورسره وی.

د افغانستان د مسئلی یواځنی حل داده چه ربانی دله اقتدار څخه لری شی. مونږ دانه وایو چه مونږ به داسی کوو یا به هغسی کوو. بلکه له لوی خدای(ج) څخه به مرسته غواړو.

د دُنیا خلق د افغانستان مسئله حل کول نه غواړی، بلکه توره یی هم سره خرابوی، ګډوډی پکښې پیدا کوی. پروپاګند کوی، بین الملل چه اصلاً یی قومنده دامریکه په لاس کښی ده، یو څوك رالیږی، چه د افغانستان مسئله حل شی، لکه محمود مستیری او نور.

ځکه امریکا ددی مشکل حل نه غواړی بلکه دجهادی وسلو تباه کول، وقار، نیك نامی، وحدت او... چه افغانانو ته حاصل وه دهغی ختمول غواړی.

د طالبانو اسلامی تحریك د ملت په غوښتنه او دروحانی علماؤ په فتوی را منځته شو. د پولدك له نیولونه وروسته ټولوته دا ثابته شوه چه دا طالبان دی او د دی ملت بچیان دی.

پاکستان یوازی مهاجرینوته ځای ورکړی او نور زمونږ تحریك سره هیڅ رابطه نلری، د طالبانو اسلامی تحریك پاکستان نه دی را پارولی ځکه طالبانو په خپلو ټولو ساحوکی اسلامی شریعت جاری کړی، په خپلو منطقو کی ئی د کباړ انتقال بند کړی چه پاکستان ته به ورل کیده.

دا تحریك زمونږ د ملت په ګټه دی ځکه د ملت ششمنی ئی له لوټولو وسائله. که څوك پاکستان زمونږ دښمن ګڼی نو دشمن به زمونږ په وطن کی تا آرامی غواړی او که دوست وی نو همکاری ئی هیڅ پروا نکوی ځکه هغه به زمونږ د نیك نامی وقار، وحدت او... لپاره کار کوی، که نه (ای ربانی) افغانی ځان بولی نو تا خود افغانانو ناموس لوټ کړ، تا خو وطن د مصیبتونو سره مخ کړو.

افغانانو هیڅکله هم د خارجیانو غلامی نده منلی څوك چه دا تحریك د پاکستانیانو ګڼی سره له دی چی ملت دوی ته هر کلی ویلی نو هغه د افغانانو توهین کوی.

د طالبانو تحریك د خدای یو رحمت دی که هر څوك پری د پاکستانی، او بل چا نومونه کیښږدی خو بیا هم داټول خلك له دوی سره دی.

مونږ چه غزنی ته ورسیدو څو څو واره مو حکمتیار ته خطونه واستول چه زمونږ سره کښېنی خو هغه و نه منله.

کله چی مونږ قندهار ونیول او ملا نقیب چه مونږ سره ئی احسان کړي وو هیڅ او خلع سلاح نشو.

بیا چه څور ورځی لانه وی تیری چه ویل به ئی چه دا خو دربانی ډله ده ځکه ئی ملا نقیب خلع سلاح نکړ، د قائز او رحمت الله واحد یار په مشری د ربانی یو هیئات مونږ ته راغلی او د ربانی دوه پیغامونه ئی موږ ته راکړه یو دا چه طالبان پیسوته اړ دی او زموږ سره پیسې ډېری دی، دا راغلی او د طالبانو مشکل پری حل کړی.

(څکوروم مخ)

روسها از اداره، ربانی حمایت خود را اعلام داشتند

منابع خبری اعلان داشتند که بوریس یلتسین در نطقیکه به حضور پارلمان روسیه ایراد کرد، اداره، ربانی را قانونی دانسته و از آن حمایت خود را اعلان داشت. گرچه به ارتباط اداره، کابل و سوابق آن چنین پیش آمدی بعید نبوده وبزرگتر از آن هم توقع رفته میتواند اما باید افزود:

لازم است که مسلمان به حقوق و واجبات خود در برابر خدا(ج) و بنده گان او متوجه باشد و مکلف است بین خودش و افریده گارش شیوه، تقوی گزیند و آنچه را خدا بر آن فرض گردانیده تحقق بخشد و گواهی دهد که جز خدا(ج) هیچ کس شایسته، عبادت نیست و محمد(صلی الله علیه وسلم) فرستاده خدا(ج) است و خواسته و حکم این دو شهادت تعهد به اجراء تمام اوامر خدا(جل جلاله) و اوامر رسول خدا (صلی الله علیه وسلم) و اخلاص در عمل برای او به تنهآئی است یعنی اینکه جز او کسی دیگر را نپرستد و به جز او به دیگری اعتماد و اتکاً نکند و از دیگری امیدوار نباشد و جز خالق و آفریدگارش به دیگری دل نبندد.

مسلمان چگونه جز خدا بدیگری دل می بندد در حالیکه میداند که او خالق، رزاق، زنده کننده و میراننده، اوست و او است که دعای شخص درمانده را اجابت میکند. (کیست که اجابت میکند در مانده را وقتی که میخواندش! و برمیدارد سختی را و میسازد شما را جانشین گذشتگان در زمین! آیا معبودی هست با خدا(ج)! اندکی پند میپذیرید) ترجمه، آیة.

در جای دیگری از تنزیل کریم ذات باری به این معنی به پیامبر بزرگ خویش گوش زد می فرماید: «هرگز از تو یهود و نصاری راضی نمیشوند تا متابعت ملت و کیش اوشانرا ننمائی)

و باری تعالی برای بنده گان که از او متابعت حق و مخلصانه داشته اند هیچ نوع دوستی و موالات را با کفار اجازه نمیدهد و جایز نمیداند و حتی از میلان قلبی با کفار منع می فرماید که به آن به این معنی اشاره شده است (میلان قلبی به ظالمان نکنید که در چنین صورت آتش دوزخ شما را مسح مینماید). در صورتیکه میلان قلبی و خفي را در دین خدا با کفار اجازه ئی نبوده است چه رسد به دوستی ها، موالات و قراردا های علنی و سری که با عزت و قوت شخصی، اجتماعی دینی و ایمانی مسلمان به هیچ شکل و رنگ آن سازگاری نداشته باشد! و در آن حاکمیت و برتری براي جانب کفار باشد.

تنزیل کریم در مجموعه ئی جامعه بشری و در میان اولاد حضرت آدم علیه الصلواة و السلام) که به دو طبقه (کافر و مسلمان) تقسیم شده اند میان اوشان به یك نوع دوستی، کارسازی و قراداد اجتماعی اشاره می فرماید که اساساً به هیچ شکل و نوعی آن در یك مسیر و جهت در حرکت نبوده و به هیچ نحوی از انحاء ربطی و تأثیر ایجابي میان ان پیدا شده نمیتواند بلکه برای ابد سیر مخالف از هم دیگر را طی مینمایند (مؤمنین و مؤمنات بعضی از آنها دوستان و کارسازان بعضی از دیگراند که امر مینمایند به نیکویی ها و معروف و باز میدارند از منکر و بدیها، و منافقین و منافقات یعنی مرد منافق و زن منافقه بعضی اوشان کارسازان و دوستان بعضی دیگر اند که امر میکنند به منکر و بدی و باز میدارند از معروف و نیکی) به این اساس با داشتن دو هدف و سیر مخالف و متضاد از هم که(معروف و منکر) میباشد و هر یکی برای امحاء و نابودی کلی هدف و سیر طرف دیگر در حرکت و جهش اند و تا بودن نمونه های معروف و منکر در زمین این مخالفت، مقابله و مجادله، ادامه خواهد داشت دیگر شده نمیتواند که میان انها دوستی، موالات و آشتی استوار نمود و از آن توقع خیر برد.

چرخنده گان اداره، شهر کابل که پوهاند و پروفیسوران فارغ شده، بزرگترین جامعه، علمی جهان اسلام (ازهر) بوده اند و در گذشته ها سمت استادان حدیث، عقیده و فلسفه، اسلامی را در دانشگاه کابل بعهده داشته اند، و به زعم خویش به بزرگترین تحریك اسلامی جهان... متعهد میباشند و به ادعا و فخر فروشی خودها که وسمت رهبری و مؤسسین تحریك اصیل و بنیادی اسلامی و جهادی کشور رابعهده دارند، اسلام تنها ملك انها است، و آنها بودند که اسلامی اصیل را به ملت مسلمان تقدیم داشته اند و اوشان هستند که نظام واقعی اسلامی را در کشور و جهان اقامة خواهند بخشید و آنها بودند که آشتی ناپذیر بودند و افراد زیادی را به جرم خریشاوندی کمونیستها به دار آخرت فرستادند و شامة، قوی آنها بود که حتی کمونیستها و ملحدین را از بوی شان میشناختند و به فیصله، شان می شناختند و آنها بودند که تعداد زیادی از چیز فهمان مسلمان افغانی را به اتهام دوستی و قرابت با غربیها از صحنه روفتند و صد ها ازین قبیل ادعا ها و فخر فروشیهای گذشته، شان، ما یقین داریم که در روشنی نصوص شرعی دوستی، موالات و مؤدت را با کفار جایز نخواهند پنداشت.

دیگر چه عامل، تحولی تغییری عقیدوی و سیاسی پروفیسوران کابل سبب گردید که روسها اخر الامر بعد از کمکهای بیدریغ نظامی، مالی، سیاسی، اخلاقی و...

حوصله، شان سر آمد و محبت و علاقه، خویش را بعد از انکار های زیادی از همکاری با اداره، پروفیسوران کابل از دل بیرون کردند و حمایت خود را از آنها علنی اعلان کردند! و چه عامل باعث گردید که پروفیسوران کابل بعد از اصدار حکم ارتداد شیعه، و دجالیت...، و کشتارها و بی ناموسیهای بیدریغ، مدال وزیراکبر خان و سیدجمالالدین افغانی را به سفیر ایران تقدیم داشتند! و چه عامل سبب گردید که قتل ها و فشار هاي بیدریغ زمام داران ایرانی بر علماء و جامعه، اهل سنت و جماعت ایران فراموش پروفیسوران اداره، کابل گردید و چه عامل باعث گردید که شهادت مسجد بابری، عصمت شهادت ها و مظالم بیدریغ مشرکین هند بر مسلمین مظلوم و بیدفاع کشمیری فراموش پروفیسوران کابل گردید و...

ممکن بلکه یقیناً پروفیسوران اداره، کابل خواهند گفت که در سیاست و خم و پیچهای مبارزه، قدرت و چوکی هیچ چیز حرف آخر و منزل آخری نبوده و هر آنچیز و عملی که انسانرا به هدف و غایه، اصلی (!) (چوکي و جاه و جلال) میرساند مجاز بلکه ضروری میباشد به شمول نادیده گرفتن همه، ضوابط و روابط اخلاقی دعوت و مبارزه، اسلامي و جهادی.

آنچه به ما و جامعه، اسلامی افغانستان و امت اسلامی ارتباط، گرد باید گفت که: حمایت دین و دین داران را چهارده قرن قبل تنزیل حکیم اعلان داشته که: «اگر شما نصرت کردید خدا را نصرت میکند خدا شما را و ثابت میگرداند قدمهای شما را» ما به نصرت خدا(جل جلاله) ایمان داشته ازاو تعالی در همه زمانها و مکانها خواستار کمك و توفیق او بوده به هیچ طاغوتی پناه نخواهیم برد. انشاء الله تعالی

د کابل داداری عدالت او غمخورګی!!!

د عینی شاهد له قوله

١- د روژی د مبارکی میاشتي په ٣ نیټه د چهلستون اوسیدونکی ګل حبیب نامی خپل دری تنه اولادونه د کور څخه راوستل او په بازار کښي یی خرشي کړل چه زه ورته ډوډي تشم ورکولای.

٢- د جدی په ١٨ نیټه د خاد په (٣) ریاست یو نا پیژندل شوی سړی دستګیر او د ریاست په مخی کښي یی د وهلو لاندی وواژه، د وهلو علت یی معلوم نه ؤ، دا د بشر د حقوقو د ساتلو یوه بیلګه ده.

٣- د روژی د مبارکی میاشتی په ٥ نیټه د آقاعلی شمس اوسیدونکی سیف الرحمن د ګل میران ځوي خپل شپږ تنه اولاده په جامع مسجد کی پریښودل چه زه ورته ډوډی تشم ورکولای او تری لاړ.

٤- جدی په ١٩ نیټه د خیرخانی اوده افغانانو ترمنځ د توروشیشو لرونکو موټر د په وسیله چه اکثره د خاد دی، ٣ تنه اختطاف شول او تر اوسه د هغوی کورنیو د هغوی مړی او ژوندی پته نه ده لګولی.

٥- د خلکو د کورونه او داسلام د مقدس دین د سپکاوی په منظور د روژی د مبارکی میاشتي د اول څخه تر پایه پوری د کابل د ښار ټولی قصابی دخلکو په مخ تړلي ولی قوماندانانو په کورونو کښی پسونه حلالول.

٦- اداری فساد دومره ډیر نه دي صرف په شعباتو کښی په عام ډول د رشوت په اخستلو پسی د خلکو جیبونه تالاشی کیږی.

٧- د شهیداتو او معلولینو د حقوقو د اجرا ونبه په رسمی ډول څرګنده ده ، صرف ٥٠٪ رشوت او دا خبره بالکل عامه ګرځیدلی ده.

٨- وسله وال په اصطلاح د امنیت ساتونکی هره شپه خپل مربوط ٣-٤ دوکانونه غلا کوی دوکانداران مجبور دی خپل مالونه هره شپه کورته نقل کړی د بیلګی په توګه د روژی د میاشتی په ٣ شپه دمکروریان ٣ په احاطه کی ٧ دوکانونه او ګاز فروشي لوټ شول.

٩- د افغانانو د پاره دنړی د خیریه موسسو مرستي صرف د وسله والو کسانو او زیاتو ششتو خلکو د پاره دی. نه نادارو او محتاجو خلکو د پاره، څرنګه چه هغو سلاح لری د سلاح په زور په خیریه موسسو هرڅه تحمیل کړی او کوم د ډوډی کارتونه چه د کابل د خلکو د پاره ویشل کیږی د هغی قیمت د هر کارت د ٣٠٠٠٠-٥٠٠٠٠ افغانیو پوری دی او څوك چه دا پیسی تحویل کړی کولی شی د ډوډی کارت واخلي که څوك غواړی د سري میاشتی د مرستو څخه ګټه واخلي حد اقل ١٠٠٠٠٠ افغانی باید مخکی ټوپك والاو ته ورکړی چه هغوی بیا ورته په سره میاشت کښي نوم ثبت او راجستر کړی.

د مولوی احسان الله (احسان)...

او وروسته د شریعت غږ راډیو نطاق محترم (نظامی) صاحب یو انقلابی شعر غونډی ته وړاندی کړ. او په دی پسی سمدستی د طالبانو د اسلامی تحریك ګران مشر خپله انقلابی وینا پیل کړه چی دوه ساعته او دیرش دقیقی یی دوام درلود.

محترم مولوی احسان الله (احسان) په خپله وینا کی د تحریك په پیل، په هیواد کی د تحریك په خلاف د ځینو ګوندونو او د ربانی د اداری دپروپاګندونو په هکله چی د طالبانو په خلاف یی کوی، په تفصیل سره رڼا واچوله چی تفصیل به یی دده په وینا کی په ځانګړی توګه په دغه ګڼه کی درته وړاندی کړو. او دغونډی په پای کی د غونډی د برخوالو، علماؤو، قومی مشرانو او مجاهدینود مولوی احسان الله (احسان) په لاس د اسلام د خادم ملامحمد عمر (مجاهد) سره بیعت وکړ او دغه پریکړه لیك خپور شو.

١- لکه څرنګه چه په پنځلسو ولایاتو کی د طالبانو همدی تحریك د ملا محمد عمر اخند په مشری کی په پوره توګه شریعت نافذ، امنیت قائم، لاری آزادی، دخلکو ناموسونه او مالونه ئی خوندی کړی او له ژبنی، قومی، او منطقوی تعصب پرته د اسلامی ورورګلوی فضاء را مینځ ته کړی، نو موږ ټول د همدی تحریك کامل حمایت او تائید اعلانه وو او د ملا محمد عمراخند امارت په افتخار تسلیمه وو.

٢- د استاد ربانی نه په کلکه غواړو چه دی ډېر تر ژره خپل نام نهاد قدرت چه نه شرعی حیثیت او نه قانونی مجوز لری او وطن ئي د تباهی او مسلمانان ئی د رسوایی خواته سوق کړی لاس واخلی، او طالبانو ته دی تسلیم کړی، نور دی د الله تعالی له دین او د مسلمانانو له ناموس او د وطن د استقلال او امانت سره لوبی نه کوی د ایران، هند، او روس په نظامی کومك او مداخلی چه په کندهار او قزاقستان کی نیول شوی وسلی دهغه لوی ثبوت دی دا مؤمن ملت نه تیا کوی، او د همدی دنیایی او اخروی رسوایی نه دی ځان او ملت وژغوری.

٣- د ملل متحد او اسلامی کنفرانس نه څموږ دا مطالبه ده چه د استاد ربانی د نام نهادی اداری سره چه ټول مؤمن ملت ئی په ضد قیام کړی هر راز مرستی بندی او علاقه قطع کړی، او د افغانستان په داخلی چارو کی دی دبهرنی مداخلت مخه ونیسی - او د افغانستان د ورکو محبوسینو په آزادی کی دی کومك وکړی.

٤- موږ په کلکه د افغانستان دهر راز تجزیی مخالفت کوو او هر څوك چه ددی ناولی عمل لپاره کار کوی موږ ئی په ټینګه غندو او په ضد ئی مبارزه کوو.

و من الله التوفیق

د اکوړه د کمپونو په ...

بل دا چه حکمتیار او دوستم او مزاری غواړی په غزنی حمله وکړی موږ ته اجازه راکړی چه ستاسو مرسته وکړو، خو موږ دهغوی یوه غوښتنه هم و نه منله ځکه چه پیښی خو د کامیابی ذریعه نده او د مفسدانو سره یو ځای کیدل طالبان ناکامی ته را کاږی.

که قادر خدای(ج) زموږ مرسته وکړی نو که ټوله دنیا زموږ په ضد ودریږی هم به موږ کامیاب یو، او که خدای(ج) زموږ مرسته ونکړی که ټوله دنیا زموږ سره ودریږی بیابه هم موږ ناکام یو.

له خبرو څخه وروسته استاذ فائز او واحدیار او نورو ټولو زموږ په لاس زموږ د مشر سره بیعت وکړ او د سترګوئی اوښکی بهیدی او استاذ فائز دا وعده وکړه چه زه به د طالبانو حقیقت ربانی ته رسوم او ټولو خلکوته به داخبره په صراحت کوم، خو کله چه طالبان کابل ته نژدی کیږی دکابل واککداران دهغوی په ضد تبلیغات شروع کړل او کمونستان ئی وبلل.

طالبانوته د کمونستانو خطاب کومه عادی خبره نده، موږ به یا کمونستان یو یا به نه یو، که چری کمونستان یو باید د ربانی څخه پوښتنه وشی چه تاولی تر اوسه دی کمونستانو ته پیسی ورکولی او هغوی ...، حمایه کول که پاکستانیان یو نو ربانی دا پاکستانیان څرنګه حمایه کول. او که کمونستان نه یو موږ ته کمونستان ویل څرنګه دی!

تاسو ټول د افغانستان خلك یاست هر یو په خپل ځای کی وګوری چه کمونستان چیرته دی او طالبان چیرته دی وبه وینی چه کمونستان، غله او مفسدان ټول د ربانی سره دی او مولویان او طالبان د طالبانو سره دی. د روسانو همکاری د چا سره ده؟ هغه روسی طیاره چه مرمی وړیکی باروی او طالبانو را ښکته کړه چا ته ئی هغه انتقالولی.

دا اوس چه په قزاقستان کی طیاره ښکته کړی شویده او مرمی پکی باروی چیری ئی وړلی! بیا نو ربانی او... څرنګه د اسلام دعوی کوی.

آیا د هرات هغه جنګ چه د هرات څخه شروع شو د روسانو د خلاصون لپاره نوه! او په مسکو کی د ربانی نماینده هم وویل چه موږ به د روسانو د خلاصون کوشش کوو، شپیته زره افغانان چه په روسیی کی بندیان دی ربانی ددوی په رابطه یو آواز هم اوچت نکړ. نږدی څلور سوه د قرآن حافظان ربانی په شهادت ورسول او نږدی دوه زره طالبان ئی شهیدان کړل. بیا یی ویل چه طالبان پښتانه نه دی او تحریك ئی یوازی دپښتنو ده، خو زموږ تحریك د طالبانو تحریك دی او د پښتنو ندی. که ربانی چیری د تاجکو د حقوقو غوښتونکی وی نو د روسانو څخه په ئی د بدخشان د تاجکو مسلمانانو انتقام اخستی وی خو ربانی نه روسان د هر چا څخه محبوب دی او یو روسی په سلو تاجکو هم نه ورکوی. مسلمانی په زیره او جهاد سره نه ده، ځکه مارك او لینین هم زیره لرله او امان الله خان هم غازی بلل کیدل. د ټول ملت دا غوښتنه ده چه ربانی باید استعفی وکړی، ځکه هغه د جهاد په خلاف روسانو ته لاس اوږد کړ.

سیاف ته خلکو د یو نړیوال مسلمان رهبر په سترګه کتل، هغه په خپله یوه رساله کی مختلط حکومت جوړول ندی منلی، د کمونستانو سره ګډ حکومت ته یی نه ویلی ده او... هغه ویل مخلوط حکومت ته متو، ائتلافی حکومت ته متو، د روسانو سره ته کښینو او... خو بر عکس د روسانو په مقابل کی ئی اوس د غلامی سرښیته کړی دی. *

اسلام او ناسیونالیزم

د تل دپاره جاهلانه عصبیتونوته پلنه ورکوی، د سپین او تور، عربی او عجمی لویدیځ او ختیځ تر مینځ د جاهلانه ویاړ او تفاخر د برتری او ځان غوښتنی نفرتونه را زرغونوی.

د اسلام مقدس دین چی د انسانی ټولنی د یووالی دپاره دلوی خدای جلا جلاله وروستنی نړیوال پیغام دی چې" انسانان د مادی او معنوی ترقی لوړو څوکو ته رسوی، دا ډول نفرتونه او عصبیتونه په رسمیت نه پیژنی، د انسانی ټولنی په منځ کی د عزت او کرامت معیار یوازی د انسان خپل اخلاقی برتری او تقوی بولی او بس. لوی خدای جل جلاله فرمایلی دي «ای خلکو موږ تاسی له یوه نر(آدم علیه السلام) او یوی ښځی (حوی‌ه رح) څخه پیدا کړی یاست، او تاسی می څانګی او قبیلی ددی دپاره کرځولی یاست چی له یوبل سره وپیژنی، خو بی شکه ډیر عزتمن د تاسی د الله جل جلاله په وړاندی په تاسی کی زیات تقوی (او ادب) لرونکی دی.» (الحجرات: ١٣)

د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: «ای خلکو! بی شکه چی ستاسی رب یو دی او دتاسی پلار یودی، خبر اوسی! د عربی په عجمی او د عجمی په عربی، د سره په تور او د تور په سره باندی فضیلت او برتری نشته، خو یوازی په تقوی سره دی.» (دغه حدیث امام احمد(رح) په مسند کی روایت کړی).

اسلام د ټولی نړی انسانان که سپین دی که تور، که عرب دی که عجم، که ولویدیځ دی او که ختیځ ټول په خپل منځ کی د الله بندګان او وروڼه بولی، مسلمان ته د غیر مسلمان په مقابل کی دا اجازه نه ورکوی چی په هغه باندی ظلم وکړی، استثمار یی کړی، او بایی انسانی کرامت له مینځه یوسی، بلکه د قانون په وړاندی ټول یو برابر بولی. د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: «ای څموږ او د هر څه پالونکی خدایه: زه ګواهی ورکوم چی بندګان (انسانان) ټول سره وروڼه دی.»

(دغه حدیث امام احمد(رح) او ابو داود(رح) روایت کړی دی) اسلام د ځان ځانی بی سیکه ورو ورو ټولنو په ځای، دیوه متحد نړی وال نظم غوښتونکی دی، د نفرتونو او عصبیتونو له مینځه وړونکی دی. په داسی حال کی چی نشنلیزم د انسانی ټولنی د یووالی سرطان دی.

زمونږ پاڅون ددی...

دینی درسونه او مذاکری لازیاتی کړی تر څو هر مجاهد د اسلامي شریعت له احکامو او مزاياوونه خبر او خپلو کړو وړوته یی پام وی، الله تعالی چی هر قام تباه او برباد کړی دی سبب یی دهغوی بدعمل وی.

د افغانستان د نامتو او ستر ١٤ کلن جهاد په پای کی ځنی مجاهدین ځکه بی لاری شول چی خپل کړه وړه او عمل یی سم په پام کی نه ؤنیولی او نه یی په هغه څه باندی ځان پوهولی ؤ چی جهادیی دهغه څه لپاره کاوه.

ده زیاته کړه: تاسی هغه ډله یاستی چی ټول مسلمان امت ددی سترګی درته نیولی دی چی په افغانستان کی به اسلامی نظام او امنیت ټینګوی، دابه هله وکولای شی چی د اسلامی نظام اهمیت مو پیژندلی وی او د الله تعالی ویره مو په زړونوکی پرته وی.

دغه راز یی وویل:

زموږ پاڅون ددی دپاره دی چی په افغانستان کښی اسلامی شریعت نافذ او خلك د خوشحالی او هوسایتی ژوند وکړی. په پای کی یی دنوموړی قول اردو په انګړ کی دیو لوی جومات تاداو کیښود چی په یووارېه دری زره لمونځ کوونکی ځایولی شی.

په کنړ کی یو دری کلن...

د هغه زوی پریږدی، خو څرنګه چه ددغه ټوپکیانو اراده بدله وه د ماشوم له پریښودو یی انکار وکړ او دشپی تیرولو لپاره یی د ټوپکو په زور معطل کړ، کله چه په معصوم کوچنی دغه شپه تیره شوه خو د شپی لخوا یی د خپل عزت د ساتلو لپاره د خپل مرګ اسباب وته موندل نو په سبا کله چه لوټماران پاڅېك ته ولاړل نو غیرتی ماشوم کلاشینکوف ته لاس کړ او خپل ځان یی وویسته چه څو شیبی وروسته شفاخانی ته په لار په موټر کی شهید شو. (انا لله...)

په جلال آباد...

کله چه د دارالایتام دری واړه محافظین د میلمنو سره روژه ماتی ته راغونډ شول نو میلمنو پری خپلی تفنګچی راویستلی او په محافظینو یی غږ وکړ چه حرکت ونکړی، بوکس له محافظینو چه امیر پاچا نومیده له خپل ځایه وخوزیده چه د مهاجمینو د تفنګچو د ضربی لاندی راغی او ځای په ځای ووژل شو، مهاجمینو نور دواړه محافظین وتړل او د پیسو ټول صندوقان یی په خپل موټر کی بار کړل او له هغه ځایه ولاړل.

د لوګر په ولایت...

چاری د اسلام په چوکاټ کی پرمخ بیولی کیږی. په خبر کی دا هم ویل شوي چه د محترم مولوی صاحب محمد کبیر له لوری یو با صلاحیته هیئت د ملا محمد میرزا او ملا حامد په مشری د ولایت د مرکز او ټولو ولسوالیو او ښاروتو د عایداتو او مصارفاتو د حسابونو د تصفیی په منظور مؤظف شوي ؤو چه نوموړی هیئت وکولای شول په لږ وخت کی معلومات راټول او د ولایت مقام ته یی په بشپړ بریالیتوب سره وړاندی کړی چه دغه کار د نوموړی ولایت دفتری او معاملاتی اموراتو ته لاښه نظم ونسق وبابنه.

په لاری وهونکو...

له حکم سره سم په هغو لاری وهونکو (قطاع الطریق) باندی د(لاری وهلو) شرعی حد تطبیق شو چی د ١٣٧٤ لمریز کال د لړم په لومړی نیټه هلته نیول شوی وو، له هریوه څخه ښی لاس په مرونډ کی او کینه پښه غوڅه کړای شوه، چی نو... یی دادی:

١- شیرخان د سلام خان زوی د زومت د محمرزو اوسیدونکی.

٢- عبدګل د احمدګل زوی د غزنی د رباط اوسیدونکی.

٣- اکبر د حاجی میراجان زوی په قوم ساك د زومت اوسیدونکی.

٤- عثمان غنی د محمد نادر ځوی چه غلایی شرعی حد ته نه وه رسیدلی د علماء کرامو په فتوی دیو کال په قید محکوم شو.

خبرتیا

د خوست په ولایت کی د منبع الجهاد د مدرسه په خپل درسی کال پیل کوی

داخلی له دولسم د کب نه پیل کیږی چی لس ورځی به دوام لری. طالبان کولای شی په ټاکلی موده کی د خپل نوم د ثبت کولو د پاره د مدرسی له مسؤلینو سره تماس ونیسی.

استاد سیاف څنګه ...

او شخصیت یی مجروح شو؛

بیا چی کله د طالبانو اسلامی تحریك راپاڅېده دی ورته خوشحاله ښکاریده او له اظهاراتو نه یی داسی برېښیده چی په زړه کی یی سپیڅلی قوت ګاڼه چی د اسلامی نظام او امنیت په ټینګولو کی به ښه کار ورڅخه واخستل شی، رښتیا هم داوه که چیری دی ورسره یو ځای شوی وای او دهغه قوت ترشا دریدلی وای نو دفساد په ختمولو، دملی امنیت په ټینګولو او اسلامی حکومت په جوړولو کی به یی ډیر چټك او ښه زیات کارکړی ؤ، له بوی خوانه به یی بحران نه په یی ساری چټکی سره خاتمه ورکړی وه او له بلی خوانه به یی خپل اعتبار، شخصیت، مجاهدین او تنظیم له هدر نه بچ کړی وو، خو متأسفانه چی داسی و نه شول، هغه څوك چی د ده له غټ استعداد او ډیر اعتبار نه یی خپله آینده په تیاره کی لیدله او له ډیروخت نه یی دسترګو اغزی ؤ په ډیره تېیرکتیا سره یی دی ددغه طوفان مخی ته وروړاچاوه، د ورری په جاموکی یی په ډیره ناځوانی او خیانت سره یو ځل بیا داسی کندی ته وړټیل واهه چی د استاذ سیاف غښتلي استعداد او د پیاوړی اعتبار خاوند شخصیت یی په یوه تیاره کونج کی بندی کړ، دده د محبوب شخصیت په خلاف یی نوم د نړی او ملت کرکی او نفرتونه راوپارول او د ده تنظیم ته یی داسی درز ورکړ چی د تل لپاره یې او نښان ورختم کړل؛

هغه له دی امله چی د پاکو طالبانو د سپیڅلی سیلاب مخی ته یی د دښمن په بنه کی ودراوه د هغه تحریك مخی ته چی د استاذ سیاف د ارمانونو تر سره کولو بوازینی او په زړه پوری وسیله وه او اوس هم ده.

په دغه جګړه کی دده هغه ښه نوم، چی استاذ سیاف تا حقه وینی توپیرونکی انسان نه دی- له منځه ولاړ، د نیکو مجاهدینو لاسرنه یی په ناحقه وینو سره شول، ډیره وسله، مهمات او پیسی یی ولګیدی، ډیر مادی او معنوی تاوانونه ورواوښتل، هغه چاچی غوښتل یی دی له صحنی نه وباسی په ډیر چل ول او دوکه سره یی دغه کاروکړای ...، نورو یی د استاذ سیاف اعتبار، وزن، مجاهدین، تنظیم او پیسی هر څه ورختم کړل.

استاذ سیاف د هیئتونو په مشری څو ځله جلال آباد ته راغی او ولاړ خوله ده سره نه خپل رسوخ او اعتبار پاته ؤ او نه چا د فیصلی واك ورکړی ؤ، بالاخره ولاړ او په وزیر اکبرخان مینه کی لاس تر زنی کښیناست.

کاشکی! د ده د تنظیم پوهو کسانو او علماوو ده ته په اخلاص نیکی مشوری ورکړی وای او دی یی له ضیاع، سیاسی او معنوی وژنی نه ژغورلی وای، کاشکی! له تنظیم نه یی هغو خلکو چی دده په جیبونو یی لاسونه ورمنډل یو څه زړه سوی یی وړباندی کړی وای او له پټو دسیسونه یی خبر کړی وای کاشکی!... کاشکی!...!

مګر دده دتنظیم پوه خلك وایی چی موږ ډیر زیار ویوست او دده دپوهولو لپاره مو ډیری هڅی اوهلی ځلی وکړی خو هیڅ ګټه یی ونه کړه؛

که خبره داسی وی نو بیا دی پخپله دغه چا د منتو ... لاندی راغلی دی چی په ده باندی یی دغسی کانی کول لاپخوا پېژندل کی وو.

یادونه

ښایی ستاسو ایمان به اجازه درنکړی چی دا دول سپیڅلی پاڼی په ناوړو ځایونو کښی وغورځوی.

(اداره)

SHARIAT WEEKLY

Publisher : Islamic Movment of Taliban of Afghanistan.
Editor -in- Chief : Movlavi Ahmad Jan.
Tel : 840378
PAK - RUPE A/C, CD. No. 1694 -69.
Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch (Code 0267)
Peshawar, Pakistan

د ګډون بیه	شپږمیاشتنی	کالنی
پاکستان	Rs. 200	Rs. 400
د خلیج هیوادونه	SR. 150	SR. 300
اروپا او امریکا	$: 75	$: 150